# د خپلواکۍ یوه پیړۍ مزل

د (۱۳۹۸ل) کال په بهیر کې د هېواد د خپلواکۍ د بېرته ګټلو یوه پېړۍ مزل بشپړ شو. سره له دې چې د خپلواکۍ د بیا ګټنې سل کاله پوره شول، خو افغانان په دې پېړۍ کې ډېر خوشاله او سوکاله نه شول، په دې سل کلن واټن کې یو ځل بیا په بېلابېلو نومونو او عنوانونو د ګڼو هېوادونو لښکرې افغانستان ته راغلې، د هېواد خپلواکي یې په یوه بله بڼه وګواښله او زیانمنه یې کړه. په دې بهیر کې پردي او پردیپال یو ځل بیا له ماتو او ننګونو سره مخ شول، خو زموږ هېوادوال یې هم له ګڼو ستونزو او اوږدې غمیزې سره لاس او ګرېوان کړل.

اوس چې د هېواد د خپلواکۍ سلمه کالیزه نمانځل کېږي، موږ دا سلیزه د هېوادوالو د نېکمرغۍ او د هېواد د پرمختګ لپاره یو ښه فال ګڼو. حکومت، ولس او فرهنګي بنسټونه هر یو د دې کالیزې په ویاړ بېلابېل پروګرامونه لري، خو د افغانستان ملي تحریک وپتېیله چې دا کالیزه په فرهنګي ولولو ونمانځي، نو ځکه خو یې د دې لپاره د کتاب خپرولو یوه لړۍ پیل کړه. دا کتاب چې اوس ګورئ، دا د همدې لړۍ یوه کړۍ ده. موږ هیله لرو چې دا فرهنګي لړۍ لاپسې وغځوو او د هېواد د خپلواکۍ د پوره سلیزې په ویاړ ګڼ شمېر علمي او ادبي اثار هېوادوالو ته وړاندې کړو.

د هېواد د پرمختګ او د هېوادوالو د سوکالۍ په هیله
د ملي تحریک فرهنګي څانګه

دریمه شعري ټولګه

# ژوند چې شين شي له خندا نه

عزت الله شمسزی

2019/۱۳۹۸

دریمه شعري ټولګه

ژوند چې شين شي له خندا نه

عزت الله شمسزی



(ژوند چې شين شي له خندا نه) د عزت الله شمسزي دریمه شعري ټولګه ده. دوه نورې ټولګې یې (د شپې په غېږ کې) پر ۲۰۰۳ او (د ژوند پاڼې) پر ۲۰۰۹ میلادي کال چاپ شوي دي.
(ژوند چې شين شي له خندا نه) له ښکلاو او روایتونو مالامال ټولنه کې د یوه جنګ ځپلي شاعر د ژوند، مینې، سرګرمیو، او اضطراب تصویرونه وړاندې کوي.
شمسزی د شعرونو ترڅنګ نثر هم لیکي چې تر اوسه یې درې کتابونه: (د لغمان د شاعرانو تذکره) ۲۰۰۱، (د ارتباطاتو لارې چارې) ۲۰۱۱ او (پر پښتو شعر د جنګ اغېزې) پر ۲۰۱۳ کال چاپ شوې دي.

Designed by: Zabih Shafaq

د افغانستان ملي تحریک
فرهنګي څانګه

info@melitahrik.com
www.melitahrik.com

د خپرندوی د خپرونو لړ: ۱۵۶



# مننه او کورودانی

د افغانستان ملي تحریک له ملي سوداګر او پانګوال ښاغلي (قاضي محمد انور منګل) څخه د زړه له کومي مننه کوي چې (ژوند چې شين شي له خندا نه) اثر د چاپ مالي لګښت یې پر غاړه واخیست او خپله فرهنګي مینه یې زبات کړه.
یو ځل بیا ورڅخه مننه کوو او کور ودانی ورته وایو.
په درنښت
د ملي تحریک فرهنګي څانګه

# ژوند چې شین شي
# له خندا نه

**( درېيمه شعري ټولګه)**

عزت الله شمسزی

۱۳۹۸ل کال

# ژوند چې شین شي
# له خندا نه

(درېیمه شعري ټولګه)

**شاعر:** عزت الله شمسزی

**چاپکال:** ۲۰۱۹ز/۱۳۹۸ل

**خپرندوی:** د افغانستان ملي تحریک

**کمپوزاو ډیزاین:** ذبیح الله شفق او فیاض حمید

**چاپ شمېر:** ۱۰۰۰ ټوکه

**چاپ وار:** لومړی

**د خپرندوی د خپرونو لړ:** (۱۵۶)

د دې کتاب د چاپي، کاپي، انلاین او بل هر ډول خپراوي حقوق له خپرندوی سره خوندي دي

برېښنايي پته: www.melitahrik.com

بسم الله الرحمن الرحیم

# ډالۍ !

د ژوند ملګرې ته مې

چې شاعرۍ ته يې پوره وخت راکړی

# شمسزی د طبیعت او مینې شاعر

طبیعت د شاعرۍستره سرچینه ده له پخوا راهیسې شاعرانو په خپلو شاعریو کې د طبیعت انځورګرې کړې ده، خو د رومانتیزم منډپالو شاعرانو دا چاره په بشپړ بریالیتوب سره تر سره کړې ده چې د لارې مشعل یې د روسو هماغه انقلابي ناره وه چې بیرته د طبیعت په لوري وګرځئ. د حسن یو تعریف دادی چې بې غرضه خوشالي دروبښي د

انساني ښکلا په برخه کې موږ بې غرضه نه یو خو د طبیعت د ښکلا خوشالي بې غرضه وي، بله دا چې طبیعت د هر چا خوښیږي ستوري، سپوږمۍ، ځنګلونه، ابشارونه، جهیلونه، غرونه، ګلونه، کروندې او نور به د چا نه خوښیږي؟

بله خبره داده چې انسان د خلقت راهیسې په طبیعت کې وسیږي نو دا یې د لاشعور برخه ده له پیله یې په کې کور کلی کړی دی نو همدغه یې لامل دی چې طبیعت د هرچا خوښیږي. په انګریزي ادب کې ورډز

ورت د طبیعت انځورګر بلل کیږي خو په اوسنیو پښتنو شاعرانو کې د شمسزي صیب په شاعرۍ کې طبیعت ډیر انځور شوی د هغه په غزلو کې هم د طبیعت انځورګری شته خو ددې کتاب نیمایي برخه چې نظمونه دي نږدې ټول یې د طبیعت رنګینې هنداره دي. د طبیعت ښکلا تلپاتې

ده او د انساني ښکلا د معیارونو په څیر یې وخت په وخت معیار نه بدلیږي او هر مهال د هرې جغرافیې هر نسل ته یو راز سرور وربښي.

ژوند چې شین شي له خندا نه / **2**

خو ښاغلي شمسزي طبیعت یوازې د رومان لپاره نه دی غوره کړی
بلکې د هیواد د غمیزې هنداره یې ترې جوړه کړې او دا یې جوته کړې
چې جګړې پر طبیعت څه راز اغیز کړی دی.

شاعر چې ددنیا شور وشر ډیر ستړی کړی دی ددمې ځای یې د خپل
وطن ښکلی طبیعت دی د یو نظم سرلیک یې دی (هلته چې جملې او

کلمې د انسان خوی لري) دا نظم تر پایه د طبیعت پر اړه دی یوازې څو

مصرعې یې د بیلګې په ډول را اخلو:

ځمه چې خوبونه مې د شعر رنې هنداري کړم
ځمه چې له پښو سره پُخلا د کلي لارې کړم
ځم چې یو ځل بیا مې سر د غره په اوږو کېږدمه
لاس مې تر سهاره د سپوږمۍ ګریوان کې پرېږدمه

یاد به خړې دښتې ته تصویر د شین ځنګل کړمه
بیا به اننګي د څو یارانو تیږو ښکل کړمه
ځم چې له شپیلۍ سره غزلې دکلمه کړمه
ځم چې د سیند غاړه کې دا ستړی زړه دمه کړمه

وخت یې دی چې درمند کې راټول غنم سندرې کړم
ګډ یې په مسرو کې د حجرې، جومات خبرې کړم
ځمه چې د توت ونه له تاک سره پخلا کړمه
لمونځ د ویاله غاړه کې په خړ څادر ادا کړمه

د لاروی (۲) تر سرلیک لاندې د طبیعت په هنداره کې د وطن تیر مهال
په شهکار ډول انځوروي د وطن تیر جنتي مهال ورسره غوټه کوي او د
نن حالت یې بیانوي وایي په موسکیو غرونو د اسمان ستوري وریدل،
لمر په سجده و او جومات او ښوونځی خور او ورور و، په چینو کې

اسمانونه پراته وو او د کوترو وزرونه له غشو نه ډاريدل. دا شهکار انځورونه د شاعر د نظم په دې شهکاره برخه کې ولولئ.

لارويه مخامخ ګورې دا غرونه
په دې غرونو کې موسکي وو ځنګلونه
هره شپه پرې اورېدل د اسمان ستوري
هر سهار د بلبلانو تکبيرونه
لمر به دلته په رکوع او په سجده و
خور او ورور وو ښوونځي او جوماتونه
په لهجه د ګل يو بل سره خبرې
او د عشق تر باران لاندې سبقونه
د سيند غاړو کې د ژوند شنه سرودونه
کروندې وې او لوونه غوبلونه
هاغو شګو کې به مونږ کول لمونځونه
ان تر خدايه به مو وکړل پروازونه
هر يو رود به له مستى وهل ټوپونه
ماتېدل يې نه په تيږو کې موجونه
په چينو کې مو پراته وو اسمانونه
رسېدل مو په کې ستورو ته لاسونه

ژوند چې شین شي له خندا نه / **4**

دا کوترې دچم داسې وحشي نه وې

وېرېدل يې نه له غېشو نه وزرونه

غورځېدل نه لکه پاڼو غوندې زړونه

پېژندل نه چا بې رحمه توپانونه

لګولې به يې ډډه وه په تيږو

خطر نه و د رنځور نرګس ښکلا ته

لېدی نه شو چا د تاندو څانګو وينه

ټول مالت به شو خپه د ګل ژړا ته

اوس د سیند څپې له خپل ساحل ويرېږي

فاصله د ابادۍ او غره زياتېږي

شنه چينه د ښامارانو دمه ځای شو

ستوري لرې کهکشان ته کډه کېږي

دلته څوک د بل په مرګ خوشاله نه و

هېڅ يو باغ بې موسيقۍ او ټاله نه و

دا ولس به و ساده بې حاله نه و

وطن داسې د غومبسو ځاله نه و.

د ځنګل مرثیه نومې نظم کې هم لوستی شئ چې د وطن د طبیعت جنتي چاپیریال څنګه دوزخي لمبو وسیځه.

ځنګل ته وایي ستا له سره هم لکه پیغله شین شال پریوت، له ابشاره دې کمڅۍ پریوتې او اوس مې ولي ګلونه نه ښکلوي، وایي په هوا کې د مرغانو سندرې هم نشته د غره چینه د کب قبر دی راځئ چې دا شهکاره مرثیه ولولو چې ډیر نوي ترکیبونه، نوي انځورونه او نوې خبرې لري.

د ځنګل مرثیه

بس د کلي غوندې ته هم بې پردې شوې
خدای خبر چې د چا سترګې در پسې شوې
لکه پېغله دې شین شال له سره پرېوت
لکه مور دې غېږ کې قتلې زمزمې شوې

ستا د ونو سترګې هم شوې نا ارامې
مخامخ یې له  ابشاره کمڅۍ پرې شوې
چې زما تر تخیله به راتللې
مړې دې واړه سندریزې شنې ویالې شوې

اوس چې کله ستا د زړه کوڅه کې تېر شم
په کې نه اورم خرپا د وچو پاڼو
ښکلوي مې نه اوږې څانګې د ګلو
ګام په ګام اورم هجرت د خړو کاڼو

ژوند چې شين شي له خندا نه / **6**

نه هوا کې شور ماشور وي د مرغانو
نه په لارو کې  شيشنا د مست اسانو
شاوخوا ته کشهارى د پښو نه شته
هيرې شوي غرنۍ له لارويانو

ها چينه چې د غره سر نه خوټيدله
په بيروچو په  لاجوردو به شوه تېره
هغه اوس ديو مين کب هديره ده
له تنزرو، له سيسيو نه شوه هېره

د مرغيو په مريو پسې ګرځي
شين ځنګل اوس د لېوانو پاچاهي ده
بې احساسه سپي په خپله رمه ګډ دي
چارچاپېره د دېوانو پاچاهي ده

له شنو پاڼو نه يې شنه نغمه ورکېږي
دغوټيو سرې موسکاوې تروربږي
ځنګل مري د حادثو له اضطرابه
لکه کلى د سبا غم ته څوربږي

د ريدۍ او د نرګسو وچکالۍ کې
اوس د ذهن مرغۍ کومې خوا ته يوسم
شنه نښتر له ژونده پرېوتل ځنګل کې
د غنمو تازه وږى چاته يو سم.

غره ته سفر نومې نظم د غره د انځور حکيمانه تعبير او تفسير لري څو قطعې يې لولو:

تر غونډۍ د ارغوانو هم لړ پورته
لويو لويو شنو غوزانو نه هم تېر شوم
لاندې کلي کې وياله وچې ګرمې وه
پرون لاړم له يارانو نه هم تېر شوم

تېرېدم له شوره ډکو شنو درو نه
ځارېدم لکه مرغۍ يې منظرو نه
تصويرونه مې د ښار سترګو کې تت شول
ور کتل چې مې له دنګو دنګو غرو نه

مست ګلان د ونو منځ کې وو په منډو
ترانې يې ګرځېدې په پستو شونډو
لاروي ته به يې سترګې شولې موسکې
خوږ سلام يې ځلېده پر سپينو ټنډو

وياله ډکې وې روانې له اوبونه
نه توبه! يخو شړومبو خامو شيدو نه

غاړې، غاړې يې د سپينو بتو ځالې
تخيل يې ډک له لېچو له بنګړو نه

ژوند چې شين شي له خندا نه / **8**

ښکلا نومې نظم کې د شاعر تصور جانان، جانان ګرځيدلی دی ځکه خو د طبيعت په هره برخه کې د وحدتي الوجودي صوفي په څير د هغه د ښلا جلوه ګوري لولو يې.

سبا به خامخا له تانه دا پوښتنه کوم
زه که په کور کې کله ناست يم که سارا کې يمه
د ژوند په هر واټ مې ستا ياد مخې ته ودرېږي
که په تيارو کوڅو کې ګرځم که رڼا کې يمه

په نيمه شپه کې که ځنګل ته کله ووځمه
چې د سپوږمۍ دمخ رڼا وينمه ته په کې يې
يمه حيران څنګه مې سترګو ته ځان ورسوې
چې چېرته هم ذره ښکلا وينمه ته په کې يې

په غره کې ته يې دسيندونو په څپو کې ته يې
ځمکه کې هرځای راته ښکارې په اسمان کې هم يې
دا د شعرونو داستانونو کتابونه پرېږده
په خدای قسم چې ايتونو د قران کې هم يې

سبا به خامخا له تانه دا پوښتنه کوم
چې ترنم کوم سندرو کې مې څنګه راځې
زما د فکر ديوالونه څنګه ونړوې
زه هېڅ خبر نه يم خبرو کې مې څنګه راځې

له ما نه ګېرچاپېره ګرځي مانه لرې نه ځي
هېڅ نه پوهېږم چې دا ولې مې ازاد نه پرېږدي
اوس خو مې ټوله شاعري هم رانه تا اخيستې
ته او خدای ولې مې د زړه دنيا اباد نه پرېږدي.

سل ساعته مينه- د شاعر يو مينه ناک شعر دی چې له خپلې معشوقې سره يې په کې راز ونياز کړی دی شعر د بنار په کوڅو او سړکونو کې د مينې انځور ګرې کوي خو د طبيعت دا مينوال شاعر په بنار کې هم خپله معشوقه له غره سره تړي. يو بند يې دی.

اوس هم په هر لمر پريواته هغه ګيلې لټوم
دغره نجلۍ پسې د بنار لارې کوڅې لټوم
خو دغه هرڅه مې د خيال يوه شېبه کې تېر شي
يو ليونتوب وي او يو خوب وي په شېبه کې تېر شي

باغ نومې شعر يې بيا يوه تراژيدی ده چې د غميزې په زمانه کې د باغ، غره او ځنګل رنځور او نرګسي انځور وړاندې کوي، يوه برخه يې داسې ده:

باغ د ځان په ویر کې ډوب دی

ځواني پاڼې یې رژېږي

سیند ته ګوره

سیند ته غوږ شه

نه خوځېږي، نه غورېږي

یوه مرغۍ پر ښانګه ناسته

ساه یې ژبه کې ده بنده

ترپ د ځوانو پاڼو اوري

چې پر ځمکه را ګوزار شي

رنګ یې ژیړ شي

باد یې یوسي، خړې خاورې پرې امبار شي

مرغۍ اَه کولی نه شي

ورو ورو ټولې کړي وزرې

زموږ شاعر یوازې د طبیعت په ګلونو او پسرلیو نه دی مین بلکې د نورو موسمونو شاعرانه یادونه هم کوي اتل نومې شعر کې چې زوی یې دی د ژمي داسې انځورګري کوي چې انسان ورته ګوته په غاښ کېږي.

یوه برخه یې ده:

د باندې واوره ښه په خوند اورېږي

هوا سړه ده ځمکه هم په سختۍ ساه وباسي

لغړې ونې له يخنۍ کوڅه کې چوپ ولاړ دي

ما مې د خپل وطن نري پټو کې ځان تاو کړی

څلور کلن زوی مې اتل لکه يوازې مرغه

خپلو وزرونو سره لوبې کوي

لاروی (۴) نومې شعر کې د طبيعت يوه وړه برخه ونه را اخلي او خپله ټوله تراژيدي يې په وجود کې انځوروي

ونې!

سلام،
زه هاغه ستا د ماشومتوب ملګری
هاغه
چې تاته به مې تل
ماشومو لپو کې اوبه دروړلې
نه!

لارويه
څه مې نه يادېږي
په ما د وخت
دومره ناخوالې

توپانونه
خزانونه تېر شول
چې اوس
له مانه خپلې پاڼې هېرې
ما خو لا څه کوې
تر ما لاندې ويالې نه
اوس په تللو لارو
هغه د پښو پلونه ورک دي
دغره سيندونه خو
په سمه کې
د پښو اېښودو ځای نه لري
دښته کې
هر ځای پردي کاڼي پرتې
له ما اوس
تېرې زمانې هېرې دي
نه!

خپه نه شې لارويه!

ومې نه پېژندې.

د شمسزي صيب په نورو نظمونو کې هم د طبيعت شهکاره انځورګري شوې ده خو ما يوازې يو څو بيلګې راواخيستې، نور تاسو خپله ولولئ او بيا پريکړه وکړئ چې شمسزی صيب د طبيعت څومره لوی انځور ګر دی.

که ددې کتاب پر غزلو خبرې کوم ليکنه اوږديږي خو دومره وايم چې شمسزی صيب د غزل استاد شاعر دی دده په غزل کې هم نوښت

موجونه وهي او هم نوي ترکيبونه سترګکونه وهي، هم يې وزنونه روان دي او هم يې د طبيعت انځورګري کړې ده په لنډه توګه به ووايم چې شمسزي صيب د شاعرۍ په ډګر کې په بل شاعر پسې پل نه دی اخستی بلکې خپل سبک او خپله لاره لري چې دا د لويو شاعرانو ځانګړنه ده. د حسن اختتام په توګه موتی له خرواره او خال له رخساره دا يو بيت درته وړاندې کوم چې د زمانې غم په کې د يارانې غم ته ورغاړې وتی دی.

راشه لږ مې زړه تر خپل انکاره وروسته وګوره
حال ددغه ښار تر انتحاره وروسته وګوره

مينه او درنښت

مصطفی سالک

☆

اوښکې که دا تورې توتکۍ  په بارخو  راولي
مرګ به لاس نیولی ددې ښار په لمبو راولي

خدایه ستا دربار ته مو خالي  لاسونه پورته کړل
ګوندې که باران دې د رحمت په شېبو راولي

 کله کله باد د لونګینو غبرګو بوی راوړي
کله کله موږ لکه شپانه، په ټپو راولي

ته چې شې رایاده روح مې داسې نا ارامه وي
ته وا لکه څوک اتشفشان په څپو راولي

نن مې تنهایي تشه کوټه کې ځایېدله نه
نه شته داسې څوک چې مروره درخو راولي

ډک له اندېښنو لکه سفر و، مزل تا سره
داسې غم به څوک زړه ته په خپلو اوږو راولي

وایي راوځي به تیارو پسې لمر لاره کې دی
سفر يې خدای کړه بې خطره خطر لاره کې دی

داسې غمجن به وربلونه تر قیامته نه وي
لږ صبر وکړه د ګلونو لښکر لاره کې دی

محبوبې ګوره دعاګانو کې دې هېر نه شمه
چېرته روان یمه او لوی سمندر لاره کې دی

دا کله کله په لمن باندې تور داغ هم ښه وي
ډېرو وړسترګو غوړولی نظر لاره کې دی

شمسړیه چا پسې مې غلی وویل ماشاالله
ویل يې لا خو پخې نه دي ثمر لاره کې دی

داسې ځای به چېرته نه وي؟ چې ارمان په کې خوندي وي
چې دا زړه لړ په سکون وي چې جانان په کې خوندي وي

انډیواله ستا جنت ته تللې لار هم په دوزخ ځي
راځه داسې ځای پیدا کړو چې انسان په کې خوندي وي

د موسم بدلون به دومره د تشویش خبره نه وي
چې ګلان په کې خوندي وي، چې ګلدان په کې خوندي وي

محبته داسې روغه له جانان سره په کار ده
چې د دواړو زړونو ګټه او تاوان په کې خوندي وي

د جذبو تضاد دې ښه دی سندریز یې کړه شمسزیه
لا چې مینه د جنت افغانستان په کې خوندې وي

ثه دنقاپ پوشو په پنچه کې را ايسار يمه
تکه توره شپه ده، توره شپه کې را ايسار يمه

زه لکه د خدای کتاب رښتينی تفسير نه شومه
بس د يو پښتون جومات تاخچه کې را ايسار يمه

ما نه مې زړه ولې لکه وړانګه الوته غواړي
زه خو د مرغۍ غوندې پنجره کې را ايسار يمه

ما نه به زما د پرمختګ پوښتنه نه کوې
زه مې لا د ځمکې په کڅره کې را ايسار يمه

ګوره بلا خلک مې د تورتم له زړه را و ايستل
خپله لکه تيل هسې ډيوه کې را ايسار يمه

☆

راشه لږ مې زړه تر خپل انکاره وروسته وګوره
حال ددغه ښار تر انتحاره وروسته وګوره

څه به درته وايمه چې ولې مړاوی یم
څه چېرته ټپي مرغۍ تر ښکاره وروسته وګوره

مه څه بېرته ورکه به د شګو په توپان کې شې
ډېره مو وهلې د ژوند لاره، وروسته وګوره

ته رانغلې، شپه راغلله، درد راغی، خزان راغی
څه وم، څه شوم ستا تر انتظاره وروسته وګوره

څومره اندېښنې په دغه توره شپه کې نغښتې دي
پورته دا حجاب کړه او کراره وروسته وګوره

وار وکړه زخمونه د بېهوشه شپېلۍ وګنډو
بيا د ماتو شويو بنګړو باره وروسته وګوره

☆

راوتلي يو ډېر لرې، بېرته تلی شو او کنه
نه چینې شته نه ګورګرې، بېرته تلی شو او کنه

لا کلونه ډېر تېر نه دي، لا هم مینې ته وخت شته دی
ستا تر هغې یوې خبرې، پېرته تلی شو او کنه

ددې ښار شور نه ډارېږم دا څه بل رنګه بلا ده
رانه خوري خوږې سندرې، بېرته تلی شو او کنه

چې لږ وخت سړی پیدا کړي د خپل زړه مراقبې ته
چې دې خپل ځان ته ملګرې، بېرته تلی شو او کنه

هیلې شته امن به راشي جنګیالي له غرو کوزېږي
له سینې خلاصوي زغرې، بېرته تلی شو او کنه

☆

لکه  زخمي اسیر په منځ کې د لښکر روان وي
د یار له غېږې چې څوک چېرته په سفر روان وي

اوس په سختۍ لکه ناروغ په زګیروي ساه وباسم
اوس لکه لمر چې د غره شاته مازیګر روان وي

د یویشتمې پېړۍ ژونده ژوند خو داسې نه وي
چې پیشنمی څوک کور ته راشي او سحر روان وي

ما به تر کومه د جنت دحورو حسن وژني
وخته تر کومه به ما دغه محشر روان وي

شمسزیه څو به د پردیو ډول ته څنې غورځي
چې په وطن کې به تر کومه دا اشر روان وي

لاړې، خو ما سره دا غم وي چې ته ...
بيا به د کوم کال، کوم موسم وي چې ته...

منې کنه اوس د احساس رابطې
ختلی مانه دلته دم وي چې ته ...

تا راکتلي خو زه بل چېرته وم
زموږ فکرونه کله سم وي چې ته...

وخت د ديدن لکه د لارې سلام
لا په بڼو مې پروت شبنم وي چې ته...

شمسړيه ستړي ژوند ته غاړه ورکړه
زړه به چاودلی لکه بم وي چې ته ...

★

پر کلي کله کله باد او باران یو ځای راشي
لکه مین ته چې غماز او جانان یوځای راشی

څه ښه تصویر جوړ کړي چې لاس کله در وغځوم
ستا ښکلو سترګو ته موسکا او خپګان یو ځای راشي

د انتظار تنده مې هېڅ مازیګر ماته نه کړه
په ما دغره په څېر سپرلی او خزان یو ځای راشي

ښکاري لا هم پر موږ د تورو تیارو زړه یخ نه دی
چې مو جونګړې ته برېښنا او توپان یوځای راشي

خدای خبر ستا به وي رښتیا او که ددروغو غوسه
خو د شمسزي زړه ته یقین او ګومان یوځای راشي

☆

کمال یې ګوره د چا سترګو کې یې اور اوبه که
یوې ملنګې د یو مست سمندر زور اوبه که

تا په خندا، خندا، خندا خبره تېره کړله
ما په ژړا، ژړا، ژړا  د سترګو تور اوبه که

بېګاه مې زړه و ستا په یاد لېونۍ  چیغه وکړم
بېګاه یو شړکنده باران د اسمان شور اوبه که

په تا مین د وخت دیوانو ته په غېره ورته
په تا مین لېونۍ! ستا یوه پېغور اوبه که

زه چې راتلم تا چې اوبه راپسې وشېندلې
د بېلتانه هغه تصویر مې د زړه کور اوبه که

☆

ته لړه ساه واخله نن زه ډېرې کيسې لرمه
زړه کې د درد قصيدې، سترګې مرثيې لرمه

هېڅ يوه پرېکړه کې يې مانه رايه نه ده غوښتې
له خپل قسمته مې بلا ډېرې ګيلې لرمه

زړه مې د نيمې شپې ژړا نه لکه لمر راووت
تورې تيارې نه تکې سپينې خاطرې لرمه

خمارې سترګې لرې پرانيزه ويده چې نه شې
لا خو ماښام دی، لا خو ډېرې ترانې لرمه

شمسڅيه هسې به ارام دسمندر غوندې يم
زړه کې دننه غرونه غرونه حادثې لرمه

☆

سلام مې نه اخلي دوی هم لکه جانان خپه دي
ستوري غمجن دي، ستوري هم په خپل ارمان خپه دي

له هيلو ډک نظر به کومې خواته واړوي څوک
ګلونه مړاوي دي او څاڅکي د باران خپه دي

ويرېږم ځمکه به يې پښو لاندې ټوټه ټوټه شي
لاره کې يو- بل نه مخ اړوي، ياران خپه دي

په دې حالاتو، بې خودۍ او بې رخۍ دخلکو
يوازې ته نه پيره! ډېر دې لکه ځان خپه دي

شمسزيه! نن دې د رخسار سحر پريشانه ښکاري
نن د غره څوکه کې رنګونه د اسمان خپه دي

هوا سره وه لاس مې ورکړ د هغې په لاس کې
ته وا څوک ونغاړي لاسونه د لمبې په لاس کې

خدایه د عشق دا معجزه ورته بیا هم وښیه
خالقه کاښي ګل کړې بیا د زمانې په لاس کې

هغه ملنګ ګوره تر اوسه په ټپو کې ګرځي
هغه پاچا هېر شو چې وې یې خزانې په لاس کې

سترګې یې بیا توپاني شوي زما زړه ډوبوي
یه د بغداد پیره ایسارې کړه خپې په لاس کې

دې ناکرار زړه ته به بل داسې سکون چېرته و
شمسځیه! شکر چې لرې څه ترانې په لاس کې

په دې پوهېږي چې سلګۍ يې له هر ګامه خېژي
سړی په خپلو ارمانونو له ناکامه خېژي

له شنې لمنې به يې خامخا مرغۍ تاوېږي
دا خوشبويۍ چې يې له ګل غوندې اندامه خېژي

کلونه وروسته بيا په هغه ميکده واوښتم
په هغه حسن چې لمبې يې له هر جامه خېژي

هره ورځ زه او حادثه، هر ځای غنم او شيطان
خدايه چې نور به څه فتنې د وخت له دامه خېژي

لمر به د خپل قامت هنداره کړي که پرېښوده چا
نوې نړۍ ته به دی مخکې تر هر قامه خېژي

شمسزی چې کوم زخم له ځانه سره خاورو ته وړي
غاټول ګلان به يې د خړ قبر له بامه خېژي

☆

د زړه درد مې په لیمو کې اوبه کېږي
محبت چې مې له سترګو نه بهېږي

چې راتلې د روماني غزل موسم و
ته چې ځې اوس د ټپو باران اورېږي

دومره سخته خاموشي يې عجيبه ده
چې د چا په ډېرو چېغو نه ماتېږي

د وصال دغه وعده يې وه نادره
وې يې بل ديدن به خوب کې سره کېږي

د دښمن سيورى ته کېناستل شمسزيه
لکه غم خواره ملګري مې بېلېږي

★

زړه یې زما، ایمان زما غونډې دی
دا لیونی جانان زما غونډې دی

مزل د تورې شپې په غېږ کې کوي
یو ستوری سم روان زما غونډې دی

کله غوړېږم کله مړاوی شمه
سپرلی زما، خزان زما غونډې دی

په دې ګومان هر چاته لاس ورکوم
چې ګونډې هر انسان زما غونډې دی

ځانته په دښتو کې سندرې وایي
یو خړ مرغه ګویان زما غونډې دی

شمسزیه ساه تېرو اغزو کې اخلي
دګلاب هم ګذران زما غونډې دی

☆

غمځپلي دي، زما غوندې خزان دي
چاپېریال کې حیوانات دي که مارغان دي

اوس خو ځمکه د غربت او تباهۍ یم
څه که غرونه مې لالونه یا مرجان دي

ماشومان مې دجګړې خبریالان شول
هر ماښام وایي دوه درې کورونه وران دي

ښکلې وبخښه که سر دې پرې خلاص نه شو
غزل شوي ګونګ فکرونه دیو ځوان دي

شاعري مې که کوترې که غنم دي
تصویرونه د افغان زړه د ارمان دي

☆

څه ماتېدم او رغېدم په ټوله لاره ښار کې
چې راوتلی ومه روغ له انتحاره ښار کې

له اضطرابه ائینې د زړونو چاودې کړي
ماتو هندارو باندې مه ګرځه غباره ښار کې

په لېونو بنګو به واوړې لېونی به دې کړي
تنکۍ غوټۍ یې داسې مه ګرځه خماره ښار کې

قیامت روان دی علامې خو یې را ورسېدې
ویالې یې وبهېدې، وینو وکړه داره ښار کې

سپینې کوترې له سپرلیو سره هم رانغلې
سترګې مې تتې شوې له ډېره انتظاره ښار کې

☆

ښکلې! راغلی یمه ستا د کمڅو پړي پسې
عشق ته ور دانګمه په خپل زړه اوبو وړي پسې

خلکه! رڼا د معرفت خپل زړه کې ولټوئ
هسې نه بیا به کوه طور کې ګرځئ سټړي پسې

یوه شپه راشئ، له ګیلو نه راته زړونه تش کړئ
ملګرو بیا به مې خبرې کوئ مړي پسې

جام د غنمو دروازې پورې ور ورسوئ
یو چا کوچني کوچني لاسونه دې راوړي پسې

اوس چې د چا د تقدس پر لمن خاورې شیندي
څومره سجدې خدایزده همدغو خلکو کړي پسې

☆

تر دغه ځايه له اغزو نه را تېر شوی يمه
د درد له ډېرو مرحلو نه را تېر شوی يمه

عشقه منې که نه له کومه ځايه والوتمه
له څومره دنګو غرو نه را تېر شوی يمه

اوه واړه کرښې د کوډګرو مې تر پښو لاندې کړې
له ډاره ډکو دايرو نه را تېر شوی يمه

هغوی به ولې زما پلونو ته بد رد نه وايي
زه پر سپين اس سپور له هغو نه را تېر شوی يمه

زړه کې مې اور بلېده سترګو کې ډيوې شمسږيه
په دې کړاو يې له کمڅو نه را تېر شوی يمه

☆

دلته تورې وربځې دي رڼا له سينده پورې ده
ژوند دی او د ژوند هره ښکلا له سينده پورې ده

نه شته يو اتل چې د مجنون غم ته جاله کړي زړه
هرڅوک ورته وايي چې ليلا له سينده پورې ده

خپله په کې ځاله کوي ماته وايي مه ورځه
ښار د جادوګرو دی بلا له سينده پورې ده

ستا بدرۍ جماله يې ترلې طلسماتو کې
سپور شه په سيمرغ هغه کلا له سينده پورې ده

رام يې کړه ارام يې کړه شمسځيه چې ورانی کوي
ته دلته او ستا د اس سودا له سينده پورې ده

☆

عشق دې تر اوسه زما زړه کې سلامت پاتې دی
کان د غمیو په سپین غره کې سلامت پاتې دی

دلته خو نه د ژوند سرور او نه منصور ښکارېږي
دا سړی څنګه دې ځنګله کې سلامت پاتې دی

بس یو ته پاتې یې راځه په خزانو مئینه
دلته یو لال په تناره کې سلامت پاتې دی

ژاړمه ډېر خو نه رانجه او نه اوبه شو په کې
د بڼو غشی مې لېمه کې سلامت پاتې دی

ساقي انګور راکړه د تېرې خاطرې په جام کې
هماغه خوند مې لا په خوله کې سلامت پاتې دی

☆

تاوه يې لېمو کې شوه د مينې د لمبې رڼا
ته وا په ځنګل کې شي ښکاره د ميکدې رڼا

هغه يوه خاموشه مرغۍ هم له ژونده ستړې ده
ژبه يې سېزلې د خپل درد د ترانې رڼا

دلته خو يو ګوټ په کې د ژوند د بقا نه ښکاري
هڅې يې ستومانه کړم ددغې اينې رڼا

تېل چې يې زموږ د کليوالو سترګو اوښکې وي
کله مونږه غوښتې وه ددغسې ډيوې رڼا

شيخه هسې نه چې د مستانو بازار ګرم کړي
لاره که غلطه کړله ستا د موعظې رڼا

دې تياره جونګړه کې شمسزيه شمعه کله وه
هغه ده بلېږي په کې شاته د پردې رڼا

☆

چې په ډک ښار کې نه ملګری وي نه يار درپسې
زړګيه وي به خامخا د چا ازار درپسې

بازار د ګټې وټې خور دی هغه ښکلي نه شته
چې ګرځېدل د ځان په بيه خريدار درپسې

ډېرو يارانو کې يو تا زړه قلندر ساتلی
چې نه دربار ته ځې او نه ګرځي دربار درپسې

ملګريه سر چې سرداری پسې ور ټيټ شي نو څه
مزه هغه کا چې سردار راوړي دستار درپسې

شمسزيه ته چې دا ساحل ساحل خويونه لرې
څپه څپه ښکلي به ډېر وي نا قرار درپسې

خاندي مې د زړه په پرهر وګوره
راشه نو اوس دا زورور وګوره

نوې کرشمې به په کې ووینې
حسن ته په نوي نظر وګوره

ستا قفس یې هم ارام ته پرې نه ښود
زور مې د تړلي وزر وګوره

تېر چې له حمزه[1] نه بې دعا نه شې
لار کې هدیره د خیبر وګوره

لاس مو په کې سره د ځان په وینو وي
کله خو زمونږه اختر وګوره

[1] د غزل بابا حمزه شینواری.

☆

مرم دې په دیدن پسې چپه کړه د وربل دیوال
نه کړي منځ کې خوند د پېښور او د کابل دیوال

ته راته د مینې په نړۍ کې سرحد مه ټاکه
بس دی چې دنیا راته جوړ کړی پل په پل دیوال

یار په مخه ښه کې په سلګیو غاړه راکړله
ته وا په لویدلي دیوال وغورځېږي بل دیوال

وخ! زړګیه نن یې باړخوګان په ژړا سره ښکاري
چا په وینو رنګ کړ د غزالو د مورچل دیوال

وخت راته د پلار د میراث څه عجیبه حل باسي
وایي دواړه ودروئ په خپله پوله خپل دیوال

اوس داسې نه يم چې ته ځې په ما خپګان راشي
خپګان لا ښه و، زلزله مې اوس په ځان راشي

دا ستا په ياد يې شوخو منډو ته زړګی غوړوم
هره غرمه چې ښوونځي نه ماشومان راشي

اوس طبيعت زما د زړه او وطن يو ډول دی
چې لېونۍ چيغې مې وخېژي باران راشي

ديو مين شهيد ورغوي کې په وينو ليک دي
سترګې مې دومره خلاصې پرېږدئ چې جانان راشي

نن د رقيب د بې رخۍ له نښو داسې ښکاري
زموږ په زړونو ښايي بيا څه بد بحران راشي

☆

لارې خاموشې دي، اغزنې دي کاروان رانغی
د دښتو زړه چوي له خپګانه خو باران رانغی

لوګی لوګی دی، نا امني ده، بې غوري ده په کې
پوره سپرلی تېر شو خو کلي ته جانان رانغی

د شنو غنمو خوب لمبه شو، سیند ترې مخ اړوي
رود لېونی شو د فصلونو تر ګریوان رانغی

هغه سړی چې مونږ د ټول کاروان لارښود ګڼلو
هغه په ځان کې ورک شو بېرته له خپل ځان رانغی

شمسزیه کومه حادثه مې په زړه تېره نه شوه
کوم یو توپان و چې پر دغه ګلستان رانغی

☆

لارې کوڅې چې د خپل چم ورته اغزي ونیسي
خود به دې ښاره څلور لارې لېوني ونیسي

په څه به ورکړو نظر ماتی د مالت ښکلو ته
خدایزده که بیا د کلي دښتې سپېلني ونیسي

ډکې غولانځې چې هوسۍ راوړي کبلیو ته بیا
خدایه غر شین کړې چې لمنې یې پورګي ونیسي

موږ نه پوهېږو چې دا څنګه او له کومې راځي
خو هر ماښام مو فضا ساندې او زګیروي ونیسي

سپرلی به هلته شي شمسږیه د خوښیو سپرلی
چې د جانان ټټر لونګ ځونډې ځونډې ونیسي

☆

کاږی مې چا پسې را واخيسته خپل سر رایاد شو
دخپل راتلونکي لېونتوب دغه منظر رایاد شو

انځور د شنو پاڼو هم رنګ رانه د وينې واخيست
د کوم زوی مړي ټلويزيون تازه خبر رایاد شو

ښار کې په ډزو پسې غږ د تودو وينو راغی
مورې دعا دې اورم ترپ دې د ټټر رایاد شو

هله رباب راوړئ، خاطر او حمزه و غړوئ
مازيګری دی او ګردونه دي خيبر را ياد شو

ته ځومره غلې وې او ما څومره خبرې وکړې
هغه سهار، هغه بېلتون، هغه سفر رایاد شو

دا کوم رګ چېړې چې بې خونده يې اهنګ راځي
نغمه دمينې ده او بوی ترېنه د جنګ راځي

مانه جنت کې هم د خپل وطن لمبې تاوېږي
زما کوثر کې هم د تاندو وينو رنګ راځي

نقشه د ځمکې که بدلېږي نو په مونږه يې څه
دلته به بيا کوم يو مغل او يا اورنګ راځي

مانه دې بله جزيره کې هم خوب وتښتاوه
چې له کابله دې تر ما د بنګړو شرنګ راځي

☆

د لوړو غرو د غېږې لمره را ترغاړې وځه
د رڼا تږی یم سحره را تر غاړې وځه

زما د مینې په ښار هم د اور سیلۍ خوره ده
ته هم ډوبېږې مازدیګره را ترغاړې وځه

بېګاه مې درسته شپه په خوب کې ژېړې پاڼې
لېدې
په ژوند باور نه شته دلبره را ترغاړې وځه

په پخوانو پلونو د مینې ښاپېرۍ پسې ځم
مسته ملنګه زوروره را تر غاړې وځه

د بېلتانه عمر ته ګوره دومره مینه راکړه
شمسزیه یاره د زړه سره را تر غاړې وځه

یو چا خواږه را کتل تېره زمانه یاده شوه
ماته د خپل ارمان د قتل افسانه یاده شوه

پرون هماغه ځای کې ډېر وخت ستا په یاد ودرېدم
پرون هماغه ځای کې ستا هغه بانه یاده شوه

یوې حسینې په زیارت باندې ټیکری غوړاوه
یو لاروي ته په چا ایښې نذرانه یاده شوه

هلئ جرګه راټولوئ بیا له وعدې واوښته
هله د کاڼي ماتولو جرمانه یاده شوه

چوپه چوپتیا ده د زخمي رباب لټون په کار دی
د چا د ولونو ولونو زلفو ترانه یاده شوه

ستا د بلېدو موسم راغلی دی
بیا د سوځېدو موسم راغلی دی

جبر او اختیار شول په یو بل کې ورک
دار ته د ختو موسم راغلی دی

سترګو کې یې رنګ د شفق وځلېد
زړه د ډوبېدو موسم راغلی دی

اوس دې محبت په لېونتوب ارزي
اوس د زولنو موسم راغلی دی

نیمه شپه خالي کور او یوازې زه
ښه د ژړېدو موسم راغلی دی

چې پرې زه وم ور ختلی هغه دار لا اوس هم شته
هغه راج اوس هم چلېږي هغه ښار لا اوس هم شته

پاڼې پاڼې شول ګلونه لا رژېږي، خاورې کېږي
ځانګه ځانګه کې یې نښې د پرهار لا اوس هم شته

دجومات غم به دې مړ کړي دحجرې تصویر به درکړم
زخم زخم یو جانانه خو سېتار لا اوس هم شته

هغه لوبه ده لا ګرمه چې به ټول تاوان تاوان وم
هغه غر اوس هم لوټېږي هغه کار لا اوس هم شته

لا د تبر خوله تېره ده، لا آره غره کې چلېږي
ترخه ویره په سینه کې د سپېدار لا اوس هم شته

مرګ په خپلو سترګو وینو درد له مور نه راچاپېر دی
خو په توره شپه کې تمه د سهار لا اوس هم شته

☆

د چا راتللو ته مې هغه وسواس پاتې نه دی
نور ددې لمر په را خَتو کې اخلاص پاتې نه دی

د تخیل هره کوڅه مې مایوسۍ ته وځي
بلا ملګرو کې دمینې احساس پاتې نه دی

د غره سینه کې پټ لالونه یې ټوټې ټوټې کړل
رحم په زړه کې د اسمان د الماس پاتې نه دی

زه ترې د اور سیند کې ډوبېږم رډې رډې ګوري
دا خلک ټول دي لاس تړلي که لاس پاتې نه دی

ښکلیه بخښنه غواړم ستا حسن په ډېر څه ارزي
خو د پخوا غوندې مې زړه اوس حساس پاتې نه دی

چې دې په لېچو کې د شنو  بنګړيو شور ولاړ وي
په هغه ورځ مې زړه بې تابه په سور اور ولاړ وي

جانانه داسې مخه ښه په اوښکو مه راکوه
بیا به مې ټوله ورځ لیمو کې دا انځور ولاړ وي

زه د دنیا له پرمختګ نه دومره شاته پاتې
لکه پاخه ښار کې د چا د ختټو کور ولاړ وي

وخت څه نادوده کوي، څه ناولي جنګ ته مې وړي
بدل له چا واخلې چې مخې ته دې ورور ولاړ وي

شمسزیه غر د حوصلې ته خو دې پام دی که نه؟
څه لویو لویو توپانونو کې سمسور ولاړ وي

نور نو توپير د اس، ليوه او د مار پاتې نه شو
چې له وحشته يې ارام غر او ښار پاتې نه شو

د اور کيږدۍ په کې کوڅه په کوڅه پلنې شولې
سوځي هلمند، دګلو هار ننګرهار پاتې نه شو

د انتحار او د بمبار ترمنځ سپر ولس مې
يوه شيبه له فرمانونو وزګار پاتې نه شو

دجنګ او سولې شعارونو کې له تندې نه مري
منه په زړه زخمي، ښايست د انار پاتې نه شو

وخت لکه ستورو موږ له خپل مداره وويستلو
لکه زما "هو " دجانان هم انکار پاتې نه شو

★

هغه چې راشي ورنه دومره ډېر لېوال تاو وي
لکه د ښار تازه خبر نه کليوال تاو وي

خاورې خبر به د سپرلي په تګ راتګ باندې شي
چانه چې ما غوندې د سرو لمبو دېوال تاو وي

ستا په ليدو مې احساسات داسې ټوپونه وهي
ته وا لوبغاړي د سرو زرو له مډال تاو وي

دېښتنې د ژوند تصوير مې ورته و ژړوي
څو انځورونه د خامکو له دستمال تاو وي

دا به نو څوک وي چنارونه په اغزيو ترړي
ترې چارچاپېره ناپېژاندي وسله وال تاو وي

بې مينې وخت دی دچا زړه ته سړی څنګه ورشي
له ډېرو زړونو د نفرت د اغزو جال تاو وي

☆

زړه به لرې، مګر يو څه په کې لمبه په کار ده
عشق په بې خوده احساس نه کېږي جذبه په کار ده

ژوند که وي اور دنمرود تا ته به شي باغ دګلو
لږ ليونتوب په کار دی، لږه عقيده په کار ده

نن دچا سترګو لکه بت بې حسه کړی يمه
چې مې لږ ولړزوي داسې يوه ټپه په کار ده

ټپه تياره ده له هر چا نه په کې ځان ورکېږي
په دې زيارت کې هرڅه شته يوه ډيوه په کار ده

د بېلتانه د غم کيسه غزل کې کله کېږي
شمسيزيه دغه درد ته لويه قصيده په کار ده

☆

اوښکې منځګړې شولې درد او درمان غاړې وتل
بس يوه هيله او يو سترګی ارمان غاړې وتل

پرون هماغه ځای کې ډېر وخت ستا په ياد ودرېدم
پرون هماغه ځای کې بيا دوه مرغان غاړې وتل

د رقيب زړه لکه د وچې پاڼې و رژېده
ديو دېوال سيوري ته دوه مئينان غاړې وتل

اوس به زه هم لکه دتاک لاسونه تاو کړم درنه
هغه دي وګوره زموږ مشران غاړې وتل

شمسزيه! نن يې له خوښۍ نه اوښکې وبهېدې
د زړه په دښته کې يې لمر او باران غاړې وتل

یو څوک مې داسې ټوله ورځ وي په لېمو کې ولاړ
لکه تصویر د کومې څانګې وي اوبو کې ولاړ

هغه د حسن شنه دره ده نیوی نه راکوي
زه لکه دښت د انتظار په سرو غرمو کې ولاړ

دمینې غږ لکه په نیمه شپه کې بوی د ګلو
ورته تر ډېره ومه غلی وسوسو کې ولاړ

د ښار او کلي فاصله لکه باڼه او لېمه
یو چې لمبه شي نو بل  هم وي په لمبو کې ولاړ

دچا دعا لکه سپوږمۍ ورته پر سر درېږي
شمسزی چې کله وي د ژوند تیارو کوڅو کې ولاړ

چې نه اقرار درته کوي او نه انکار وکړي څوک
زړه او نا زړه مينې ته څومره انتظار وکړي څوک

نه شته يو دوست چې لکه جام، لکه غزل غوندې وي
زړه به دې غواړي خو له چا سره بنډار وکړي څوک

د چا خبرو مې له زړه داسې لوګي پورته کړل
لکه په پورې غره په شنه سهار بمبار وکړي څوک

په دې پوهېږمه چې سور ګلاب د مينې سمبول
مانا يې څه وي که په چا د ګل ګذار وکړي څوک

تيشه د غم غره کې وهل شيرينه مينه غواړي
شمسڅيه بې له مينې څنګه ژوند کې لار وکړي څوک

☆

دلته تیاره کې هر سړی هوا ته خاورې شیندي
په سترګو پام کوه دنیا رڼا ته خاورې شیندي

اوس مو خواخوږي نه شته اوس که مونږ هجرت هم کوو
خلک د اوبو په ځای زمونږه شاته خاورې شیندي

وایي د ژوند کنډولی ډک ښه وي ترخو زهرو نه
زما په لپه کې راتېول دوا ته خاورې شیندي

دغه سړی چې په سجده دی راختونکي لمر ته
همدا سړی به یې ماښام ځلا ته خاورې شیندي

شمسزیه دلته که د چا د ژوندون خیر هم غواړي
لکه یاغي ګردونو ستا دعا ته خاورې شیندي

☆

جنګ دغريب وي که د خان، تاوان يې مونږ ته رسي
کلی زمونږ شي په کې وران، تاوان يې مونږ ته رسي

د اور او اوسپنو سيلاب زمونږ په سيمه تېر شي
ګټه ترې واخلي رقيبان، تاوان يې مونږ ته رسي

لوبه که هرڅوک ګټي سر به په کې مونږه بايلو
يو قرباني د هر ميدان، تاوان يې مونږ ته رسي

د کابل ښار کې کلابند ښاغليه پام کوه لږ
ستا به وي دوه ګوتې فرمان، تاوان يې مونږ ته رسي

شمسزيه بيا په مستۍ راغلل ليوني بادونه
وربل که جړ شي د جانان، تاوان يې مورږ ته رسي

★

د ژوند په هره سيالۍ هر ډګر کې مات شي سړی
چې جانان وبايلي نو بې وخته ميراث شي سړی

ملګرو نه يم بې ايمانه خدايزده څنګه چل دی
دښکلو مخ ته لکه نرمه توره قات شي سړی

شاعري څه ده بس د چوپو کليمو غږول
ځانته دنيا، نه د حجرې نه د جومات شي سړی

چې ودې وينم کله مستې قلندرې سترګې
په زړه کې وايم چې په دوی خو دې خيرات شي سړی

شمسزيه داسې ملنګۍ کې هم عجيبه خوند دی
چې کله کله وړ د حسن د زکات شي سړی

☆

دا چې له ځان سره په جنګ دی او قرار يې نه شته
ژوند ور په غاړه دی انسان دی او روزګار يې نه شته

په پورې دښته طبيعت مسلسل جبر کوي
غرمو کې اوړی ژمی سوځی او بهار يی نه شته

دګل له پاسه تورې شپې توره کېږدئ وهلې
ورځه ډيوه يې زړه کې بله کړه سهار يې نه شته

خيال مې ځنګل غوندې تازه تازه نغمې غږوي
خمار خمار فکرونه نه شته چې بازار يې نه شته

بيا يې په لاس د زنګ وهلو خنجرونو ورکړم
وخت مې په داسې وسله وژني چې اثار يې نه شته

☆

د ماښام هر خبر په وينو کې لت پت روان دی
مړي دي، جنګ دی او چاودنې دي قيامت روان دی
کلونه کېږي د حسين او د شمر په نامه
واړه وطن شهيد شهيد شو مصيبت روان دی
غرونه مو ستړي کړل خو مونږ لا ستړي شوي نه يو
لا لکه رود زمونږ په زړه کې بغاوت روان دی
عمر مو ټول په مرده باد او زنده باد کې تېر شو
اصلي دښمن زمونږ په منځ کې سلامت روان دی
زمونږ له زړونو چې د مينې جنازې راوځي
زمونږ ذهنونو کې د کرکې امارت روان دی
داسې دې غواړم لکه ستړی وجود خوب چې غواړي
مرګيه راشه دنيا تنګه شوه افت روان دی
شمسټيه بيا راوځي لارو ته نيم ځانه ماران
له زاړه فکر سره شاوخوا بيعت روان دی

☆

دعا کوه راته دعا مقابلې ته ورځم
خالي لاسونه د بلا مقابلې ته ورځم

په هره تیره به یادګار په خپلو وینو لیکم
لکه حسین د کربلا مقابلې ته ورځم

یا به شهید شم یا به وژغورم د ښار ښاپیرۍ
زه د خپل وخت د اژدها مقابلې ته ورځم

ددې وطن تر هر دېوال شاته ناځوانه ناست دی
شېبه مې نه پرېږدي هوسا مقابلې ته ورځم

چاچې مې زړه دی پایمال کړی لکه خاورې لار کې
شمسزیه نن د هغه چا مقابلې ته ورځم

☆

ناهیلی ژوند مو د ناځوانه نګار غېږ کې اېښی
مونږ لکه سترې اسیر سر د روزګار غېږکې اېښی

په هر یو واټ یې حادثه، هره کوڅه غم کوڅه
ته وا چا ښار د تدریجي انفجار غېږ کې اېښی

څومره بېواکه مو مزل  څه بې منزله روان
لکه ړندو ستورو مو ګام د غبار غیږ کې اېښی

غزل یې شونډو کې، فریاد یې وچ په ستوني کې دی
بلبلې سر د نړیدلې چنار غېږ کې اېښی

ګوندې که باد یې زمزمه کړي د یار جړ ور بل ته
سندریز زړه مې د سُر شوي سېتار غېږ کې اېښی

☆

جانان مې زړه ته د ګلونو په موسم کې راغی
ایله یو څوک د ارمانونو په موسم کې راغی

سڼکال اختر کې دهلیزونه له ږلیو ډک شول
سڼکال اختر د بارانونو په موسم کې راغی

نن به مې ټول تازه تازه دردونه لولم ورته
نن مې جانان د غزلونو په موسم کې راغی

د محبت دور مې ټول په نادانۍ کې تېر شو
سرته مې هوش د نفرتونو په موسم کې راغی

اوس پرې د غره ملګري واړه بدګومانه ښکاري
ښار ته شمسړی د تهمتونو په موسم کې راغی

☆

جام راکه ساقي چې ټول روزګار بې مزې شوی دی
ژوند بې مزې شوی دی چې يار بې مزې شوی دی

شرنګ نه لري، چنګ نه وهي، زنګ د زړونو نه شي وړی
ساه يې د نغمو وځي، سېتار بې مزې شوی دی

اوس دې څوک پروا د غوړېدو- رژېدو نه کوي
تنده د ګل نه شته او خمار بې مزې شوی دی

زه چې وم په کلي کې په ښار پسې زړه چاودی وم
اوس چې زه د ښار شومه نو ښار بې مزې شوی دی

زړه هماغه زړه دی، خو نه شوق لري نه ذوق لري
يار هماغه يار دی، انتظار بې مزې شوی دی

☆

غبر راپسې و د یو چا خدای خبر څه یې ویل
یو قدم مخکې دوه په شا  خدای خبر څه یې ویل

ژیړ مازیګر، د لارې سر، بلا خبرې د یار
نیمه ژړا، نیمه خندا خدای خبر څه یې ویل

ګناه زما وه او که ستا دومره خبره  نه وه
خو د رقیب لنګه شوه غوا خدای خبر څه یې ویل

څه تاو راتاو، څو ځلي مات لکه زلمی اتڼچي
ګل و هوا ته په ګډا خدای خبر څه یې ویل

بیګاه سپوږمۍ د سیند څپو ته پټېده، ښکارېده
کله ادا، کله حیا خدای خبر څه یې ویل

هغې نن بیا په ټول لمانځه کې اوږدولې سجدې
وه په دعا کې په ژړا خدای خبر څه یې ویل

☆

تاوده لاسونه دې د لمر د پلوشو غوندې دي
د زړه په غره کې مې غرېږي د نغمو غوندې دي

زمونږ ترمنځ رقيب ته ځای ورنه کړې خدای ته ګوره
رقيبان هر ځای ديوالونو، دروازو غوندې دي

څه په نرمۍ نرمۍ زما د زړه کښتۍ ډوبوي
سترګې دې سم د دريابونو د څپو غوندې دي

هر يو اشنا نا اشنا انسان يې منځ کې لاره باسي
زمونږه زړونه د پايمالو کروندو غوندې دي

د محبت په يوه ګرم نظر رنګ واړوی
شمسزيه ځينې ځينې ښکلي د شيدو غوندې دي

☆

قدم به زه واخلم خو تلل زما په واک کـې نه دي
زړه او نصیب یو ځای کول زما په واک کې نه دي

لکه زاړه څراغ پر لاره د بادونو ناست یم
شپه روښوم، شپه ختمول زما په واک کې نه دي

لښکر زما دی خو زما له قومندې نه وتی
اوس د جنګ توغ پورته کول زما په واک کې نه دي

دداسې ښار په دروازو زما نوم ولې لیکي
چېرته چې تش شپه تېرول زما په واک کې نه دي

اوس لکه څاه د ارامۍ په صندلۍ کې ناست یم
اوس لکه سیند په مخه تلل زما په واک کې نه دي

دا کمال مو غرونو نه بېلېږي نه
لمر يې نښترونو نه بېلېږي نه

باده هسې نه چې لېونی دې کړي
پاڼې له ګلونو نه بېلېږي نه

ستړی به توپانه شې! خو دا حجرې
سپينو جوماتونو نه بېلېږي نه

بېل به له باڼډو نه شي خو دا خلك
خپلو رواجونو نه بېلېږي نه

يو ارمان مې لا شمسڼيه زړه کې دی
هېڅ مې له فکرونو نه بېلېږي نه

☆

لکه ټپه، لکه نغمه ده ښکلا
نه، نه زموږ د سیند څپه ده ښکلا

چا ویل چې غرونو کې سندرې وایي
دنجونو لېچو کې پرته ده ښکلا

چې مخامخ شوې راته وځرخېدې
خدایږو همدغه حادثه ده ښکلا

زمونږ پر ژبو چې گل، گل غوړېږې
ښکاري گودره تا کې شنه ده ښکلا

د زمانې غوندې څو رنگه لري
شمسڼیه ستره اینه ده ښکلا

لوبه يې وشوه په زړګي، کيسه همدومره ده بس
د محبت د لېوني کيسه همدومره ده بس

لکه رڼا د ونو څانګو نه ورو ورو بېلېږي
ځان رانه داسې ټولوي کيسه همدومره ده بس

راټوکېدل او رژېدل بيا خاورې خاورې مزل
زما له انده د سپرلي کيسه همدومره ده بس

دلته د ګل دکتاب پاڼې د هوا په لاس کې
که يې ساتي، که رژوي کيسه همدومره ده بس

ما ژړوي لکه اسمان چې ګل ګل وغوړېږي
د باران لارې لټوي کيسه همدومره ده بس

☆

لکه ستا زلفو نه  نسیم د سهار غلی تېر شي
کنډر کنډر زړه نه مو داسې بهار غلی تېر شي

دیدن یې ماته وي راوړی ما په ځان پوی نه کړي
چې خړو خاورو کې مې وویني یار غلی تېر شي

تپه تیاره ده، خطر زیات شو، ډیوه ولګوئ
دا څووم ځل دی چې ټک راکړي او مار غلی تېر شي

دې نیمه شپه کې به د چا د زړګي ور ماتوي
څانګې رپېږي،  دګامونو کتار غلی تېر شي

دا بې قدري  یې هم شمسږیه لا جوابه ښکاري
قدم مې کېږدي د زړګي په پرهار غلی تېر شي

☆

نه چنګېز دی، نه اورنګ دی، نه پرنګ دی
خوار ولس مې له خپل ځان سره په جنګ دی

چې د خپل باغ د غوټيو غاړې رېبي
نه غازي دی نه دا توره ده، نه ننګ دی

غمه نور مو د لېمو چينې دي وچې
مرګه پاتې دې لا نور ځومره قلنګ دی

ماښامی دی، وريځې ګرځي باران نه شته
چېرته لاړ شم، پردی ښار دی زړه مې تنګ دی

يو شاعر ترخو حالاتو اواره کړ
نه مريد، نه د چا پير دی، نه ملنګ دی

☆

نه، داسې نه ده؛ چې بې مينې يو يا زړونه مړه دي
ملګريه دلته د اړيکو څراغونه مړه دي

يو عزيز نه شته په ټول ښار کې خريدار د ښکلا
هماغه ځا ښه وه د مصر بازارونه مړه دي

څنګه به نه درځم، په منډه لکه ستورو درځم
خو بس چې ته دا زيرى وکړې چې اورونه مړه دي

دلته ټول کور کې يو تصوير د چا د سترګو نه شته
داسې ښکارېږي ددې کور ټول ديوالونه مړه دي

له تا نه لرې ژړا هم دومره اسانه نه ده
له تانه لرې مې ليمو کې بارانونه مړه دي

☆

هغې نن څه مسته معصومه شان ادا وکړله
اول يې چک لګاوه بيا به يې ښېرا وکړله

دې زمانه کې اوس څوک شرط د شمايلې منې
ما لېوني په کې اوس هم د زړه سودا وکړله

هغه د ژمي پيشنمی هېڅ رانه نه هېرېږي
چې سپينو ستورو دې په سترګو کې رڼا وکړله

مصيبتونو مې خوبونو ته هم لاره وکړه
بېګاه مې ټوله شپه په خوب کې هم ژړا وکړله

☆

په مونږه دلته شوګير شپې د زلميتوب تېروي
هغه په زړه کاپېره ورځې هم په خوب تېروي

زه چې تر ونې لاندې ژاړم هغه هم چغېږي
کومه مرغۍ هم مرحله د مئينتوب تېروي

هاغه سړي نه ځان د ښار په رقابت کې ورک شو
اوس د ژوندون پر ځلورلاري لېونتوب تېروي

نيازبينې سترګې د نرګسو رنځورۍ وخوړې
د مساپر باران په تمه پېغلتوب تېروي

☆

ګرځمه خپل کار کوم د چا راسره څه کار دی
ژوند په خپل اختیار کوم د چا راسره څه کار دی

نه رانه جومات قضا دی، نه د میخانې سلام
هرڅه په خپل وار کوم د چا راسره څه کار دی

ښکلو ته ددام غوندې په لار کې غوړېدلی یم
ښکار یمه که ښکار کوم د چا راسره څه کار دی

زړه مې د مات جام غوندې پروت ټوټې ټوټې راته
صبر انتظار کوم د چا راسره څه کار دی

نه د باد مستي منم او نه د درې تنګ ګوګل
رود غوندې رفتار کوم د چا راسره څه کار دی

ښکاري منزل ته مې جانانه لږ مزل پاتې وي
ايله يو ګام ترمنځ زما او د اجل پاتې وي

ټول څراغونه کړم خاموشه خو په سترګو کې مې
تمامه شپه لکه سپوږمۍ يو څراغ بل پاتې وي

نن داسې چوپ يې، داسې ډوب دتخيل چينه کې
لکه شاعر نه چې نيمګړی کوم غزل پاتې وي

☆

خپل ارمان مې ستا د حسن پر جهان تقسیمولو
کار مې داو وزګارتیا کې مې باران تقسیمولو

شتمني مې دومره نه وه چې ددوی هیلې پوره کړم
ماشومان رانه چاپیر و، ما پرې ځان تقسیمولو

عجیبه ده په خدای زه هم په هماغه ځای کې ومه
تا چې کوم ځای کې زما د مرګ فرمان تقسیمولو

وخت به راشي پښتانه به وایي څه عجیبه وخت و
چې وړیا به شاعرانو خپل دیوان تقسیمولو

خلکو وران کړل ټول د ژبې او رنګونو دیوالونه
یو وطن و، مشرانو یې افغان تقسیمولو

☆

په کومه ورځ چې فاصلې مو ترمنځ ډېرې شولې
زه په کې ورک شوم د ژوند لارې رانه هېرې شولې

چې ستا د هر انداز تعریف به مې په شعر کاوه
هغسې نه یمه اوس هغه شېبې تېرې شولې

ستا مستې سترګې هم نن چاته مړاوې ګوري
لکه چې دا کوترې هم په دام کې ګېرې شولې

په وچېدو خیال مې له سره نوې څانګې کوي
لکه رامبېل چامبېل دې زلفې ترې چاپېرې شولې

شاعرۍ ته خو وې د درد په هر پړاو را سره
ته او خدای کومې مرحلې مې په زړه تېرې شولې

☆

چې افسانو کې مومن خان دی او ښامار وژني
هغه اتل لېونی شوی دی خپل ښار وژني

زه حادثو مړ نه کړم، زه له جنګه روغ ووتم
یاد یې لره چې ما به ستا دا انتظار وژني

سړی یوه شېبه سکون پسې اوس چېرته لاړ شي
دلته دې کار وژني او هلته انتحار وژني

د ښکلو سترګو په موسکا دې ټوله ورځ ښایسته وي
چېرته مې لوستي، محبت د زړه غبار وژني

شمسزیه ژوند دی بس ادم او یکنواخته مزل
څوک په غنمو پسې ورک او څوک به مار وژني

چېرته پروت يې او د چا د محبت خيالونه وينې
لېونيه دا کوم په مناسبت خيالونه وينې

څه کافرۍ ټوکې تا هم مسلمانه شروع کړي
د دوزخ په دروازه کې د جنت خيالونه ويني

واا، امير صيبه! په خلکو دې اسمان دی راټيټ کړی
ته لګيا يې او د خپل زوړ امارت خيالونه وينې

دا دې چا مستانه زړه کې د ژوندون ښايست وژلی
ايتونه لټوې دشهادت خيالونه وينې

بيا پر ذهن دې شمسڼيه دجنت شمال لګېږي
دجانان وطن د غېږې د وصلت خيالونه وينې

## هلته چې جملې او کلمې د انسان خوی لري

څمه چې خوبونه مې د شعر رڼې هنداري کړم
څمه چې له پښو سره پٌخلا د کلي لارې کړم
څم چې يو ځل بيا مې سر د غره په اوږو کېږدمه
لاس مې تر سهاره د سپوږمۍ ګريوان کې پرېږدمه

ياد به خړې دښتې ته تصوير د شين ځنګل کړمه
بيا به اننګي د څو يارانو تيږو ښکل کړمه
څم چې له شپيلۍ سره غزلې دکلمه کړمه
څم چې د سيند غاړه کې دا ستړی زړه دمه کړمه

وخت يې دی چې درمند کې راټول غنم سندرې کړم
ګډ يې په مسرو کې د حجرې، جومات خبرې کړم
څمه چې د توت ونه له تاک سره پخلا کړمه
لمونځ د وياله غاړه کې په خړ څادر ادا کړمه

ډک د زړه ټوکرۍ کړم له ګلونو ګلمخونو نه
نوی احساس راوړم له چينو له چينارونو نه
خيال به مې تر تاک لاندې روان وياله کې ومينځم
شوخ، ماشوم ارمان به د باران وياله کې ومينځم

ځان به د چنچڼو، توتکيو په شور موړ کړمه
سترې بيا په چيغو ملا اذان ستونی دمورکړمه
کټ کې په نيم ويخ ځان د ځوانۍ څادر را خور کړمه
ځمه چې د وخت تللې شپېې بېرته انځور کړمه

ډېر راته يادېږي د جومات د سيپارو ورمې
غاړې لونګينې په لاسو کې د تسبو ورمې
هلته بس جملې او کلمې د انسان خوی لري
هلته عقيدې او نظريې د ايمان بوی لري.

زما دزړه دپاچاهۍ ملکې
لږخودخپل سلطنت حال وګوره
دتندی ګونځې که مې نه شې لوستی
زما دلاس دکرښوفال وګوره

که دې په دې هم باورنه راځي نو
زما دزړه پرهر دیوال وګوره
تصویردسترګودې نقش شوی دی پرې
راشه د خپل حسن کمال وګوره

منم چې مادې مینه نه منله
خوخدایزده څنګه مې غصه لمبه شوه
مخ نه دې راغلې داسې ګرمې سیلۍ
چې بله هیله مې لمبه شوه

څه چې تقدیر کوي هغه به کېږي
څوک شهنشاه کړي څوک ملنګ د حسن
زما په څېر ډارن ډارن کبان هم
ناڅاپه ونیسي په چنګ د حسن

نو اوس چې مینه مینه مینه شومه
غواړم ژوندون دا ستا د خال سیوري ته
زه هم کټ مټ دا ستا په څېر غمجن یم
راشه چې کېنو د وصال سیوري ته

تېر وخت کړه هېر په ماضي اور پورې که
مستقبل لرې، غم د حال خوند کوي
وخت ځي راځي هېڅ اعتبار پرې نه شته
دنن کیسه ده اوس جنجال خوند کوي

راته په زغرده وایه سپېنې سپېنې
دخولې خبره نه د زړه به کوې
زه لېونی یم په ځان نه پوهېږم
که لاس در وغځوم څه به کوې

ستا په نظر که هرڅه ښکارمه خو
زه دې په مینه کې دار هم منمه
که څومره ټکنده غرمه شې ښکلیه
په زړه د سور اور ګوزار هم منمه

نوره دې خوښه که نور هېڅ هم نه وي
اخیر زما په څېر انسان یې که نه
حیا دې سر وخوري همدومره بس دی
شمسۍ دا ستا ته یې جانان یې که نه؟

## لاروی (۱)

لاروی ملګری وايي هاغه غر دی
دغره ډډه کې يو ځوړنده کمر دی
خلک وايي تر کمر لاندې ديره ده
او تر څنګ يې نړېدلې مقبره ده

بس همغه ځای د ماتو زړونو کور دی
ځي هغه هلته چې بل يې زړه کې اور دی
ته هم ورشه چې دا ستونی دې لږ سپک شي
ښه ډېر وژاړه چې غم دې د زړه ورک شي

هاغه پورې ښکاريان وينې په بامو کې؟
غوړولي يې دي لومې کروندو کې
غږ ونه کړې الوتونکي به بيدار کړې
د ويدې ابادۍ مشر به په قار کړې

دی ټولواکه دی په دغه قبيله کې
ګوري هر څه ته په خپله اينه کې
زړه يې لرې دی پنځوس کاله له مينې
نه يې اوښکې شته، نه اه لري سينه کې

دې کوڅو کې ټوله ورځ دماښام بوی وي
مور چې کله هم په دې لاره تېرېږو
ديوالونه راته ډېر څه ويل غواړي
خو مور چوپ لکه د سيورو پناه کېږو

لارويه ځوانه! هاغه غونډۍ وينې
هغه شنې، سرې لوپټې چې پرې رپېږي
دغه لوی، واړه قبرونه مو خپلوان دي
هره ورځ يوه جنډه په کې زياتېږي

هر سهار يوه مېرمن ځي هديرې ته
دماشوم شهيد پر قبر ور ټيټېږي
د ټيکري په څنډه لمر نه ځان پناه کړي
د شيدو بوی سره يو ځای پورته کېږي

لارویه ځوانه اوس داسې وخت نه دی
چې دې څوک د زړه خبره چاته وکړي
که نه څوک به وي چې څوک یې زړه کې نه وي
مګر دا د راز  سندره چاته وکړي

زما زړه ته که ورکوز شوې نو به پوی شې
چې په دې ښار هم تېر شوی یو توپان دی
خاورې، خاورې یې دهیلو ځوانې پاڼې
لکه هاغه برج زخمي یې هر ارمان دی

لارویه! اوس هغه وختونه نه شته
چې بې میو به مو مست هر مازیګر و
ددې کلي ډېر ګلان مې وو همنومي
او په هر یو مې د غره هومره باور و

دا پټي، پولې مې ټول خواږه یاران وو
هاغه وړاندې ځمکه نه وه دومره شاړه
شنه خندا پر  شنو فصلونو ګرځېدله
ته وا سم لکه سپرلی د سیند په غاړه

اوس چې ځانګه ګورې ګل نه جدا کېږي
نو مرغۍ د کومې پاڼې خواته کيني
هره ونه خپلو مټو نه ويرېږي
تاک به څنګه د ممانې خواته کېني

نو لارويه! غږ دې زما ځوانۍ ته رسي
سلګۍ غلې کړه چې وېره مې زياتېږي
ستا د اوښکو د څپو د ټينګې نه دی
ګنبدي زړه مې خطر کې دی نړېږي

## لاروی (۲)

لارويه مخامخ ګورې دا غرونه
په دې غرونو کې موسکي وو څنګلونه
هره شپه پرې اورېدل د اسمان ستوري
هر سهار د بلبلانو تکبيرونه

لمر به دلته په رکوع او په سجده و
خور او ورور وو ښوونځي او جوماتونه
په لهجه د ګل يو بل سره خبرې
او د عشق تر باران لاندې سبقونه

د سيند غاړو کې د ژوند شنه سرودونه

کرونديې وې او لوونه غوبلونه

هاغو شګو کې به مونږ کول لمونځونه

ان تر خدايه به مو وکړل پروازونه

هر يو رود به له مستۍ وهل ټوپونه

ماتېدل يې نه په تېږو کې موجونه

په چينو کې مو پراته وو اسمانونه

رسېدل مو په کې ستورو ته لاسونه

دا کوترې دچم داسې وحشي نه وې

وېرېدل يې نه له غېشو نه وزرونه

غورځېدل نه لکه پاڼو غوندې زړونه

پېژندل نه چا بې رحمه توپانونه

لګولې به يې ډېره وه په تيرو
خطر نه و د رنځور نرګس ښکلا ته
لېدی نه شو چا د تاندو څانګو وينه
ټول مالت به شو خپه د ګل ژړا ته

اوس د سيند څپې له خپل ساحل ويرېږي
فاصله د ابادۍ او غره زياتېږي
شنه چينه د ښامارانو دمه ځای شو
ستوري لرې کهکشان ته کډه کېږي

دلته څوک د بل په مرګ خوشاله نه و
هېڅ يو باغ بې موسيقۍ او ټاله نه و
دا ولس به و ساده بې حاله نه و
وطن داسې د غومبسو ځاله نه و.

## لاروی (۳)

ته ولاړ يې په درې لارې لارويه
نور به دم او قدم شمارې لارويه
فاصله ده هر منزل ته لنډه شوې
ځه، خو شاوخوا به څارې لارويه

ددې شاته لارې وېره خو شوه تېره
لږ سفر کې د لمبو څلور سيندونه
ډېرى زړونه د مارانو صندقونه
تاوېدل په کې له زهرو ډک سرونه

څراغونه له هيبته وو خاموشه
حوصله د غوړېدلو چا کې نه وه
تر کولنګه مړاوى لاس نه غځېدلو
زمزمه د ساه ايستلو چا کې نه وه

دغه  بله لاره وځي داسې قام ته
چې په دوی باندې تمام عمر ماښام دی
ژوند ته ګوري د خپل ذهن له کړکيو
ګاونډيو ترې پټ کړی د لمر جام دی

اضطراب يې په لېمو کې غوړېدلی
نا خبره دي پراته له شاوخوا نه
ساده زړونه يې دي ډک له انقلابه
سترګې اړوي د ستورو له رڼا نه

د تاريخ په ګړنګونو کې ايسار دي
سرابونو کې ترې ورک دي تصويرونه
ترانې به دې د زړه قفس کې ساتې
وژني دوی د توتکيو  اوازونه

دغه مخامخ چې کومه لار پرته ده
د لاجوردو او لالونو ښار ته وتې
تللې پلونه به د زړه په رڼا خارې
سيده ستا د ارمانونو ښار ته وتې

د نسیم غوندې به لاره کې تېرېږې
زمزمه به کړې د مینې سرودونه
په هر باغ به بې احسانه رڼا وېشې
مچوې به لکه وړانګه ټول ګلونه

د لمبو سیند نه به خپله پورې وځې
دخپل ژوند د جالې خپله جاله وان شه
د ویالو شونډې له تندې نه چاودلي
د اوبو غوندې یې رګ رګ کې روان شه

سترګې سترګې دي سپرلي ته داحساس دې
د جونګړو  د روازې او دېوالونه
کړکۍ ټولې د سحر خوا ته کړه خلاصې
ځالې، ځالې کړه کوترو ته بامونه

ژوند چې شین شې له خندا نه شنه دره کې
له اینځرو نه به ډکې کجاوې شي
بویوي به د ګیډي کمیس ګلونه
کروندوې به زیړ غنم  لشې لشې  شي

ځرک د پټو خزانو به په لاس درشي
ځو لسيزې به نړدې شې خپل ارمان ته
قيمتي غمي به وتراشې له تيږو
غاړکۍ به يې کړې غاړې د جانان ته

چې  پايزيب د مستانه ويالو په پښو کړي
اننګي د شاوخوا باغونو سرې شي
ازادي به هلته ونيسې په غېږ کې
چې دا ږرونه د جنت رنې چينې شي.

## ته چې نه يې!!!

هسې نه اور مې شي ګډ په ارمانونو
ستا دغېږې بوی مې هېر شي له لاسونو
هسې نه ګوره چې وتښتم له ځانه
چېرته پټ شمه په منځ کې د قبرونو

بس په کومه ورځ چې ته يې رانه تللې
لکه ګل د غم ځنګل کې را ايسار يم
تنهايي مې په ټول کور کې نه ځايېږي
لکه درد د زخم تل کې را ايسار يم

اوس مې تنده لوږو څانګو ته رسېږي
دسينې تاو مې په ستوني کې وچېږي
لکه باغ چې په خزان کې مړاوی کېږي
يا هېر شوی ښار چې وار په وار نړېږي

بېلتانه داسې بېوسه، دومره خوار کړم
ته به وایې یو ناهیلی شان دیوال یم
ګډوډ ذهن مې په سلو خواو خور دی
بس ولاړ د غورځېدو په استقبال یم

دربغه، دربغه دا شدت د درد احساس کړې
هغه سوز چې ګل له څانګې نه جدا شي
یا هغه بېدریغه چیغې د سیندونو
چې څپې ورنه په شګو کې پناه شي

بیا به کله هم پرېښږدې تیاره ښار کې
ائینې د خپل تصویر  په انتظار کې
خپله لپه به یې د هیلو کوټنۍ کړې
چې پناه نه شي د وخت ګرد او غبار کې

## سپین ږیری

غربت، ژمی او ساړه سړه ګردونه
رژوي لکه د پاڼو غوندې زړونه
یو سپین ږیری د جومات مخې ته ناست دی
غوړولي یې تاوده لمر ته فکرونه

تخیل یې مخامخ نیولی ځان ته
دې هنداره کې دی ځیر د ژوند کاروان ته
کله کله ټک او ټوک یې خیال تالا کړي
سترګې موښي ګوري غره ته بیا اسمان ته

وړاندې پوله کې يو څو سورکي ګلان دي
لکه جنګ کې ايسار شوي ماشومان دي
دخاموشه ويالې شونډو ته غوږ غوږ دي
د شنو بوټو ترانو پسې پرېشان دي

پورې خوړ کې په تيزۍ يو مار تېرېږي
له وحشته پسې تېږي را ښويېږي
د بابا همزولي ونه کې شور جوړ شي
څو مرغۍ له خپلو ځالو کډه کېږي

ګرد چاپيره نا اشنا نا اشنا غږونه
ښکته پورته شي پردي پردي ګامونه
شاوخوا باغونه ټول خمار خمار دي
ډک له تيرو دي د کلي درمندونه

بابا ورو ورو ټولوي رنځور هډونه
په زاړه پټو کې تاو کړي زنګنونه
موسيقي يې د تسبو لاس کې غږېږي
لمس کوي يې زړه د پلار، نيکه يادونه

مخامخ کلا کې ګوري لوړ برجونه
رپېدل چې له هیبته یې ښارونه
تصور یې غازیان مخې ته کتار کړي
دننګ څلو ته یې ځیږ شي ګڼ بریتونه

دماضي پاڼه یې شنه تر شنو فصلونو
له خوښیو، له مستیو، اتڼونو
لر او بر  له سندریزو ګودرونو
ډک په زرکو او کوترو درمندونو

شپېه وروسته شغ او پغ د خبرونو
کړي دانه وانه امیل یې د خیالونو
یو زلمی سلام بابا ته ور ډالۍ کړي
بېرته ګډ شي د خپل دور په غمونو

په راډیو کې د جنګ غږ اورېدل کېږي
فکر یوسي د زلمي هر یو ارمان ته
لږ ساعت خپلې ځوانۍ ته ورستنېږي
کله وګوري زلمي ته، کله ځان ته.

## د ځنګل مرثیه

بس د کلي غوندې ته هم بې پردې شوې
خدای خبر چې د چا سترګې در پسې شوې
لکه پېغله دې شین شال له سره پرېوت
لکه مور دې غېږ کې قتلې زمزمې شوې

ستا د ونو سترګې هم شوې نا ارامې
مخامخ یې له ابشاره کمځۍ پرې شوې
چې زما تر تخیله به راتللې
مړې دې واړه سندریزې شنې ویالې شوې

اوس چې کله ستا د زړه کوڅه کې تېر شم
په کې نه اورم خرپا د وچو پاڼو
ښکلوي مې نه اوږې ځانګې د ګلو
ګام په ګام اورم هجرت د خړو کاڼو

نه هوا کې شور ماشور وي د مرغانو
نه په لارو کې شیشنا د مست اسانو
شاوخوا ته کشهارۍ د پښو نه شته
هیرې شوي غرنۍ له لارویانو

ها چینه چې د غره سر نه خوېږدله
په بیروچو په  لاجوردو به شوه تېره
هغه اوس دیو مین کب هدیره ده
له تنزرو، له سیسیو نه شوه هېره

د مرغیو په مریو پسې ګرځي
شین ځنګل اوس د لېوانو پاچاهي ده
بې احساسه سپي په خپله رمه ګډ دي
چارچاپېره د دېوانو پاچاهي ده

له شنو پاڼو نه یې شنه نغمه ورکېږي
دغوټیو سرې موسکاوې ترورېږي
ځنګل مري د حادثو له اضطرابه
لکه کلی د سبا غم ته ځورېږي

د ریدۍ او د نرګسو وچکالۍ کې
اوس د ذهن مرغۍ کومې خوا ته یوسم
شنه نښتر له ژونده پرېوتل ځنګل کې
د غنمو تازه وږی چاته یو سم.

# زما په زړه کې کیږدې ونه وهې

زما له سترګو نه خوبونه مه وړه
زه د خپل غم غېږ کې ویده ښه یمه
زه نور له ژونده ستړی شوی شاعر
دخپل ماتم غېږ کې ویده ښه یمه

پام کوه سترګې دې ونه غولېږي
زه د ژوندي په نامه مړی یمه
زما له شونډو نه خوځښت مه غواړه
هسې یو باد دلته راوړی یمه

خدای خبر چا سره او چېرې به ځم
زه مې په خپل مستقبل نه پوهېږم
چې به مې کوم ساحل ته سر ورسي
لا په راتلونکي منزل نه پوهېږم

ورشه دخپل ښایست د بڼ لپاره
نورو جونګړو کې باغوان پیدا کړه
د نورو زړونو کوځې ولټوه
په کې د خپل زړه ورك ارمان پیدا کړه

زما په زړه کې کېږدی ونه وهې
په دغه دښته لوی توپان روان دی
ژوند به دې هسې په اوبو لاهو کړي
یو رود د اوښکو د باران روان دی.

## لاره

هلته به ټوله کورنۍ زما په تمه وي اوس
خو زه پر لاره د لمبو شاته ايسار پاتې يم
لوخړې خيژي، ګڼه ګوڼه ده خلک غره ته ګوري
زه هم د جنګ د ختمېدو په انتظار پاتې يم

جنګ معلوم نه دی چې د چا او چا ترمنځه به وي
په تور سړک کتار ولاړ خړې رنجرې ښکاري
له سينده پورې غره ته ټول مساپر سترګې سترګې
خو هلته نه د تورې پړک شته او نه زغرې ښکارې

تيل او اوبه د کابل سيند کې غېږ په غېږ روان دي
څپو کې نه شته هغه څواک چې د اور شپول ووژني
نن له اسمانه انتظار د سخاوت نه شته چې
ستونې کې تنده د نرګس او د غاټول ووژني

زما ترخنګه یو ټانکر لکه ښامار ولاړ دی
یو څو کسانو یې په سیوري کې بنډار جوړ کړی
خپلو کې وایي برکت په همدې ډزو کې دی
دې ګډوډیو زموږ ژوند، زموږ روزګار جوړ کړی

څو ګامه لرې یو ماشوم سوداګر چیغې وهي
لاره پخه بنده ده، کیک واخلئ، کلچې واخلئ
چې هغه دوه څرخکې ورکې شولې جنګ خلاصېږي
ښه به وي دا چې اذوقه د تورې شپې واخلئ

زما چې ګټه جنګ کې نه شته نو دعا کومه
چې خدایه لاره کړې ژر خلاصه او لمبې غلي کړې
هلته به ټوله کورنۍ راته په تمه وي اوس
دواړه څرخکې ژر ژر ورکې کړې جګړې غلي کړي.

# بدلون

ټول هغه څه ورک کړه چې مانه یې سکون اخیستی
زمانې څه چې دې راکړي هغه بېرته واخله
دا وینې وینې، زخم زخم حال مې زړه برېښوي
مانه ماضي، مانه ګټلې کیسه بېرته واخله

ستا په بارودو کباب من او سلوا نه غواړمه
خو تر خپل سیند تر خپل پټي پورې مې لاس پرېږده
په دسترخوان د صبر خپل جوار  او پنیر ته کېنم
خو ما ته هغه د سپرلي غوندې احساس پرېږده

فضا مې پرېږده، د رڼا مزي دې ټول درټول کړه
غرنی ښه وم، د حواسو ازادي مې ښه وه
دې تندر تندر الوتکو رانه خوب اخیستی
هغه د میاشو بنګ بنګ ښه و، غریبي مې ښه وه

دا غځېدلي ښاماران  دې هم له ځانه تاو کړه
ماته همغه خپلې دوړې، دوړې لارې پرېږده
دوی د لمبو ژبې لري خو شا پټۍ نه لري
ما او جانان ته د یو بل د وصل چارې پرېږده

تورو بادونو مې هم  ساه سینه کې تنګه کړله
زما د چم بې پانې ونې هم ارام نه پرېږدي
ګرځوي سترګو کې هر لوري د وحشت جزیره
چې په کوم  لوري برابر شي پوخ او خام نه پرېږدي

پرېږده چې غاړه غړۍ خپلې ونې، بوټې کړمه
وزر مې خلاص کړه چې  دا خپل غر او غاټول ووینم
د زړګي پاڼه مې د اور پېړۍ کې اور وانخلي
چې په رڼو سترګو دا خپل جنت مې ټول ووینم

دا غرونه غرونه وسایل د مرګي بېرته یوسه
پرېږده چې زه مې نورپه ورځ، په میاشت په کال پوی شم
راپسې بیا ددې کور  ټولې دروازې وتړه
خیر که یوازې شم چې لږ د ځان په حال پوی شم.

## غره ته سفر

تر غونډۍ د ارغوانو هم لږ پورته
لويو لويو شنو غوزانو نه هم تېر شوم
لاندې کلي کې وياله وچې ګرمي وه
پرون لاړم له يارانو نه هم تېر شوم

تېرېدم له شوره ډکو شنو درو نه
ځارېدم لکه مرغۍ يې منظرو نه
تصويرونه مې د ښار سترګو کې تت شول
ور کتل چې مې له دنګو غرو نه

مست ګلان د ونو منځ کې وو په منډو
ترانې يې ګرځېدې په پستو شونډو
لاروي ته به يې سترګې شولې موسکې
خوږ سلام يې ځلېده پر سپينو ټنډو

ويالې ډکې وې روانې له اوبونه
نه توبه! يخو شړومبو خامو شيدو نه
غاړې، غاړې يې د سپينو بتو ځالې
تخيل يې ډک له لېچو له بنګړو نه

ته به وايې چې اسمان اوبه کېدلو
ځاځکی ځاځکی پر ګلونو غوړېدلو
زړه به مانه ګام په ګام پاتې کېدلو
لکه شوخ ماشوم په خپله خوښه تللو

چارچاپېره د ښکلاو جزيرې وې
که چينې وې که ګودر که چنارونه
د غره ډډه کې له کاڼو جوړ کورونه
لکه نښتي وي له يو بل سره زړونه

هر څه ښه و، خو کنګل و نوښتونه
بدل نه و  له موسم سره ذهنونه
فاصله تر ښوونځي وه ډېره زياته
په ځوانانو ډک د کليو وسطلونه

هر سړی ناست و په يو درمند وياړونو
مټ يې ډک له تيغ بنديو تاويزونو
راوتلو نه له خپلو رواجونو
ويرېدل د ښار له نويو تصويرونو

پاس په غره کې هوا سمه د سپرلي وه
خو خوره په سپېدارو مايوسي وه
د غنمو له بڼو نه ښکارېدلو
چې روانه د لېوانو پاچاهي وه.

## تصویرونه

نیمه شپه مې ده سپوږمۍ خیال کې روانه
رڼوي مې د تیاره ذهن ګوټونه
دماشوم غوندې یې لاس نه یم نیولی
وار په وار راته راښیي تصویرونه

یو تصویر کې د پیشو هومره کوچنی یم
کشمالي غوندې نازک مې اندامونه
ټوله ورځ په پستو غېږو پسې ګورم
بویومه د لونګو امیلونه

په خاپوړو یې موسکا پسې ور زغلم
خبر نه یم چې په کومه روان ژوند دی
جنتونه مې په خیال کې غوړېدلي
خوب مې ټول د ښاپیریو په مړوند دی

د مور غېږه راته لویه تر دنیا ده
دواړه سترګې یې د مینې اسمانونه
سترې ساه چې د خپل پلار پر اوږو اخلم
دنګ تر غرونو راته ښکاري دا برجونه

په دې بل کې تر ګلابه په قد دنګ یم
نیم وجود مې محبت دی او نیم جنګ یم
هر سهار رانه نرګس زړه کې خپه وي
هر سهار یې په نانځکو په غورځنګ یم

د همدې تصویر تر شا یوه کیسه ده
دا نو زرځله تر شاتو هم خوږه ده
ما سپوږمۍ ته د اختر کالي اغوستي
تېره کړې مې څپلیو سره شپه ده

پړسېدلي مې دي مخ او څنګ جیبونه
څه سکې دي، څه د لوبو سامانونه
اندېښنه د ورکېدو یې راسره وي
هرې منډې پسې شمارمه نوټونه

اخ دې بل کې ټول د خاورو دېوالونه
پر اوږو يې غوړېدلی  دي ګلونه
د نيمکښه دروازې شاته څوک ښکاري
چې خوشبو کړي د تازه غزل بيتونه

اوس چې تېر دي لکه باد هغه وختونه
وايم ځار يې له شپېبو شه دا کلونه
رنګ او بوی په کې د هغې غوټۍ نه شته
اوس که ډک کړم له ګلونو  کتابونه

## ناره

هئ ـ څوک شته چې مې د سترګي درد غړ واورې؟
چې توپان وهلي زړه ته مې  دوا شي
داسې څوک چې مومن خان مې دناورين شي
داسې څوک چې راته زيری د سبا شي

داسې څوک چې قهرمان د هر ډګر وي
داسې څوک چې لمر کې پوخ يې توره، سپر وي
داسې څوک چې سيارې راته تابع کړي
جبرائيل غوندې چالاکه يې وزر وي

بس چې خلاص مې له پردي لاس نه ګريوان کړي
ټول افغان په يوه توغ پسې روان کړي
ګلدرې ټپه، ټپه او يا قربان کړي
دغيرت شمله مې دنګه تر اسمان کړي

وخت د مرګ په سوداګر يم ګرو کړی
هره خوا د تورتم تور سیند په څپو دی
په باران د اوښکو وينو نه مړ کيږي
په وجود کې مې د اور سيند په څپو دی

داسې چاته وخت په غېږ يم ور وستلی
چې نه لاس راکوي نه رانه په څنګ ځي
بې کلتوره، بې رواجه، بې مذهبه
نه په سوله دی او نه رانه په جنګ ځي

لکه ونه مې په خپلو مټو وژني
لکه غره يې په خپل اور باندې کباب کړم
مغل بيا په مور کې لارې جوړې کړي
اورنګ بيا په خپل بهرام باندې خراب کړم

دا عصري دښمن نه جار وهي نه غورې
نه يې توره لاس کې شته نه تن کې زغرې
شپه او ورځ يې سترګې ناستې وي کمين کې
چې له کوره مو رڼا و ساتي لرې

وايي دلته که دلمر وړانګه پيدا شي
ددې خلکو زړه او ذهن به رڼا شي
پښتني غېرې دي ډېرې غيرت خيزې
سم او غر به بيا ميرويس او احمدشاه شي

رهبران به يې کړي بند خپل دوکانونه
بيا به نه پلوري ايمان او غيرتونه
ملايان به يې د عقل اسان زين کړي
احساسات به په کې نه وهي موجونه

نه کمی به يې د زرو نه د زور وي
د پښتون د شملې راج به لور په لور وي
د اپيمو له جګړې به وي راوتی
دا نښتر نښتر زلمي به په خپل کور وي.

## ښکلا

سبا به خامخا له تانه دا پوښتنه کوم
زه که په کور کې کله ناست یم که سارا کې یمه
د ژوند په هر واټ مې ستا یاد مخې ته ودرېږي
که په تیارو کوڅو کې گرځم که رڼا کې یمه

په نیمه شپه کې که ځنگل ته کله ووځمه
چې د سپوږمۍ دمخ رڼا وینمه ته په کې یې
یمه حیران څنگه مې سترگو ته ځان ورسوې
چې چېرته هم ذره ښکلا وینمه ته په کې یې

په غره کې ته يې دسيندونو په څپو کې ته يې
ځمکه کې هرځای راته ښکارې په اسمان کې هم يې
دا د شعرونو داستانونو کتابونه پرېږده
په خدای قسم چې ايتونو د قران کې هم يې

سبا به خامخا له تانه دا پوښتنه کوم
چې ترنم کوم سندرو کې مې څنگه راځې
زما د فکر ديوالونه څنگه ونړوې
زه هېڅ خبر نه يم خبرو کې مې څنگه راځې

له ما نه گېرچاپېره گرځې مانه لرې نه ځې
هېڅ نه پوهېږم چې دا ولې مې ازاد نه پرېږدې
اوس خو مې ټوله شاعري هم رانه تا اخيستې
ته او خدای ولې مې د زړه دنيا اباد نه پرېږدې.

## سل ساعته مينه

شاعرې! خير دى چې دې هېر کړم، دخداى هېره نه شې
لاس دې رانه کړ
خو څه بل شان ليونتوب دې راکړ
نوي خويونه
نوى خيال د مينتوب دې راکړ
اوس چې قضا مازيګر کله هم باران اورېږي
په منډه منډه ځم
هماغه ځاى کې ودرېږمه
چې په لومړي ورځ دې زما غوږ کې دمينې زمزمې کولې
نيمې دې خپلې وې او نيمې دې د جګو غرو ټپې کولې
[ وه خدايه پاکه] غږ اوس هم له ديوالونو اورم
کله دې ښار کې ګورم
کله دې له غرونو اورم

شاعرې! خير دی چې دې هېر کړم، دخدای هېره نه شې
زما يې ياده، زما هېره نه يې
لا دې وصال پسې تر نيمو شپو سپوږمۍ لټوم
هماغه شپه، هغه جمعه، هغه بلۍ لټوم
له سلو هيلو سره کېنمه چې غېږ دې واورم
خو کله ته را ښکاره نه شې، کله زه نه يمه
کله سپوږمۍ وريځو کې ورکه شي درک يې نه وي
کله په ما غمونه زيات وي، يا زه ښه نه يمه

شاعرې! خير دی چې دې هېر کړم، دخدای هېره نه شې
زما يې ياده، زه دې نه هېروم
زه له اوله پوهېدم چې لاس دې نه راکاوه
د ژوند پر دښته د سراب احساس دې نه راکاوه
خو دغه درد دغه کيفيت چې ستا بېلتون راکړی
زما کنګل کنګل زړګي کې يې لمبې بلې کړې
زما د روح په تياره ګوټ کې يې ډيوې بلې کړې
زه اوس له تانه پاڼې پاڼې خاطرې لرمه
د مازيګر د لمانځه ښې خوږې ټپې لرمه
اوس هم چې کله ماښامی پر دغه لار تېرېږم
په تخيل کې ستا د کور لارې کوڅې لټوم
لمر په لويدو وي
او زه هم لکه يو ستړي شپونکي
د ښار ماښيو کې کوډله د شپنې لټوم
له ما نه لار ورکه وي
ته په انتظار ولاړه

دغه لټون په ما ماښام کړي
له تا لمونځ قضا شي
د ريبار لاس کې دې د ګل غوندې ګيله را رسي
" خدای دي ژوندی لره په ما باندې دې لمونځ قضا کړ"
او تر ګيلې وروسته دې بيا خوږه ټپه رارسي
داسې ټپه چې ستړي روح ته مې سکون وي په کې
ستا د غزلو په شان خوږ
د عشق مضمون وي په کې
د ريبار مخ ښکل کړمه
ستا خوږه ټپه ولولم:
" لمونځ چې قضا شي بيا ادا شي – نه ادا کېږي قضا شوي ديدنونه"
اوس چې بلا ورځې او شپې
له دې خبرې اوړي
اوس هم په هر لمر پريواته هغه ګيلې لټوم
دغره نجلۍ پسې د ښار لارې کوڅې لټوم
خو دغه هرڅه مې د خيال يوه څپه کې تېر شي
يو ليونتوب وي او يو خوب وي په شېبه کې تېر شي

شاعرې! خير دی چې دې هېر کړم، دخدای هېره نه شې
په خدای چې اوس مې هم د زړه په باغيچو کې ګرځې
تا به هېر کړی يم او ځان ته به دليل هم لرې
خو ما به ډېر وبخښې
زه لا په دې نه پوهېږم
لا مې د چا د هېرولو طريقه زده نه ده

زه مې ديو ساعت ملګري هېرولی نه شم
درد خو د چا زړه ته هېڅکله رسولی نه شم
نو ته اوس ووايه چې،
زه به دا ستا د مينې سل ساعته څنګه هېر کړم...

## زه او شعر

زه او شعر

زه او شعر له کلونو همداسې روان یو

کله مو ژوند ډېر تریخ شي

کله لږ خوږ شي

پر شونډو مو  موسکا وغوړوي

دیوه اوبل له سترګو اوښکې پاکې کړو

یو او بل ته ډاډ ورکړو

زموږ ژوند همدغه دی.

# سفر (۱)

کله چې مارغان کډه کوي
له یوه ساحله بل ساحل ته
له یوه باغه بل باغ ته
حيران یم خپلې وزرې څنګه الوت ته جوړوي
خپله اب ودانه
او خپلې خاطرې څنګه راټولوي
اه، زه اوس پوی شوم
زه اوس د مارغانو له درده خبر شوم
کله چې مې د خپلې کوټې له تاخ تاخ نه
خپل ګردوهلي کتابونه راټول کړل

او

کله چې مې د خپل کلي، کوڅو

دیوالونو

او هدیرې سره اوښکې تویې کړې

د کلي په درمند ځای

حجره او جومات کې

له خپلو یادونو سره غاړې وتم

زه اوس پوی شوم

چې خپله ځاله ورانول څومره سخت وي

په روان سیند کې ولاړې سپوږمۍ

او په غاړو کې یې سنځلو

او چنارونو سره خدای پاماني څومره سخته وي

زه اوس پوی شوم چې زاڼې ولې په هوا کې په چیغو چیغو ژاړي.

## باغ

باغ د ځان په وير کې ډوب دی

ځوانې پاڼې يې رژېږي

سيند ته ګوره

سيند ته غوږ شه

نه خوځېږي، نه غورېږي

يوه مرغۍ پر څانګه ناسته

ساه يې ژبه کې ده بنده

ترپ د ځوانو پاڼو اوري

چې پر ځمکه را ګوزار شي

رنګ یې ژیړ شي

باد یې یوسي، خړې خاورې پرې امبار شي

مرغۍ آه کولی نه شي

ورو ورو ټولې کړي وزرې

چې په ځاله کې ماشومې مرغکۍ نه شي خبرې

په شبګیر وهلو سترګو

د تیارو پاڼو له چاودو

دغره لوړه څوکه څاري

انتظار یې زړه کې شین دی

چې به کله د لمر وړانګې

دباغ زړه کې وکړي لارې...

## نوی کال

یاران لګیا دي تصویرونه د خپل حال خپروي

څوک خوشالۍ ، مبارکۍ د نوي کال خپروي

زه ورنه لرې یو ځنګل ته راوتلی یمه

شنه خاموشي ده

پاڼې ریږدي، مرغۍ شور نه لري

هوا سړه ده، هوسۍ نه شته، زړونه اور نه لري

یو زه روان یم له جګجیت سره سندرې وایم

دواړه دخپلو تېرو ورځو په ارمان کې ورک یو

وړاندې ځو شاته ګورو

بل رنګين جهان کې ورک يو

هغه باران کې له کاغذ جوړه کښتۍ لټوي

هاغه د خاورو کوټنۍ، هغه ګوډۍ لټوي

دچا جنګونه، د چا ضد د چا خپګان غواړي

له هرڅه تېر دی

بس هغه تللی دوران غواړي

زه د ځنګل دهرې ونې لاندې ودرېږمه

دهرې ونې ډډ کې

خپلې خاطرې لټوم

پوله، پټي

د ويالې غاړه، د انځرو ونې

خړې کوڅې

کوچنی جومات، لويې حجرې لټوم

د ونو پاڼې لکه ټول زما د ژوند پاڼې

له شرارت

له مئينتوب، له لېونتوب نه ډکې

په پاڼه پاڼه کې د ونو تېر يادونه وينم

د چا معصوم حسن او خپل تاند ارمانونه وينم

ځان پسې ګرځمه چې څوک يمه او چېرته يمه

زه په لټون اوس د جمال که د جلال يمه

چې نه خبر په نوي کال نه په خپل حال يمه.

## ځانوژنه

ځانوژنه تش دا نه وي

چې دغره سر ته شې پورته

لېونی لکه فرهاد شې او تېشه په سر خطا کړې

ځانوژنه تش دا نه وي

چې د ښار له کوم دوکانه

يوه کپه د زهرو واخلې او چې شپه توره تياره شي

له ژړا نه دې زړه تش کړې

بیا یوه کاشوغه زهر د اوبو غړپ سره تېر کړې

غر غړې دې پورته کېږي

درد دې ستونې کې وچېږي

چې جانان دې لا خبرېږي، جنازه دې پورته کېږي

ځانوژنه تش دا نه وي

چې باروت له ځانه تاو کړې

د دښمن په لټه ګرځې

نه په ځان نه په جهان یې

بد ګمان په هر انسان یې

په ډک ښار کې ځان پټاو کړې

ځانوژنه داسې هم وي

چې ژوندی له ځانه ووځې

چې له خپل ارمانه ووځې

چېرته لرې ورته ناست یې

ځان دې سوځي، ګران دې سوځي

د زړه هر ارمان دې سوځي

خو ته مړ يې په ژوندونې

خو ته هېڅ کولی نه شې

ساه دې مټو نه وي وتې او وزر وهلی نه شې

رڼې رڼې ورته ګورې

ګلستان دې لمبه کېږي

خو ته هسې تش کالبوت يې

پر اوږو د بل بار بوت يې.

## بې خونده جزيره

ورېځې ځمکې ته موسکۍ دي

ونې ټولې زرغونې شوې

سره مرغۍ څاڅکو ته ناڅې

زه لرګينه برنډه کې، لمر خاته طرف ته ګورم

دا هواره ځمکه ټوله

له چناره تر غاټوله، ځنګلونه، ځنګلونه

څه بې خونده جزيره ده

نه اسمان لري نه غرونه

نه سپوږمۍ په کې چا وليد

نه دستورو اميلونه

ځو لرګينې کوټنۍ دي

ځو له ژونده سترې زړونه

زړه مې غلى غلى غلى له مرغۍ سره لګيا دى

هو موسم ډېر ښکلى شوى

خو د چا له ښکلو سترګو

چې د لمر وړانګې ختلې

هغه سترګې دلته نه شته

هغه مينه دلته نه شته

ښه ده ته يې ښه ده زه يم

پورته کېږي مو غبرونه

که نه ډېرې خاموشۍ نه به کوځه وکړي بويونه.

**اتل**

د باندې واوره ښه په خوند اورېږي
هوا سړه ده ځمکه هم په سختۍ ساه وباسي
لغړې ونې له يخنۍ کوڅه کې چوپ ولاړ دي
ما مې د خپل وطن نري پټو کې ځان تاو کړی
څلور کلن زوی مې اتل لکه يوازې مرغه
خپلو وزرونو سره لوبې کوي
ناڅاپه ترپ شي
د کړکۍ ښېښې ته ځان رسوي
مخ د کړکۍ خوله هندارې سره ولګوي
" پوسټ مېن "
ځان سره و بنګېږي
زما لا سترګې درنې شوې نه وي

د دروازې له نري شغ سره راپورته شمه

څوک دی؟

اتل نېمکښې دروازې نه راته چيغه وکړي

د ګاونډي لور خپلې سپی سره خبرې کوي شاته مې څو قدمه لرې

پخلنځي کې د کاسې د ماتېدلو موسيقی سره نهيلې زمزمه پورته شي

پلار دې په ويښه د جنت وطن خوبونه ويني

دلته د روغ، رنځور پوښتنه نه شته.

## بااار

نيمه شپه تياره، ساړه ...

او ته غرق نيشه پردي ښار کې روان يې

لاندې ځمکه دې هر ګام سره خوځېږي

نه دې کور، نه دې کوڅه در معلومېږي

هره خوا ګورې کړې وړې کوڅې دي

په لرګينو کوټنو وريځې خورې دي

مخامخ د ونو منځ لړه رڼا ده

راچاپيره ترې خاموشه شان فضا ده

له شيشو جوړ دروازه کې څه ځړېږي

يو کوچنۍ غوندې لوحه په کې زنګېږي

د لوحې توري رنګين دي په رنګونو

ب – ا- ر يې جوړ کړي له ګلونو

واه! راځه دا خو د ورکو خلکو ځای دی

ته راځه که چېرته ځان په کې پیدا کړې

ته راځه که خپل یاران په کې پیدا کړې

ته هم ورشې میخوارانو کې ور ګډ شې

یو ګوښه خنډه کې ځای ځان ته پیدا کړې

شپېبه وروسته دې یو څوک غوږ کې غږېږي

ته وا څانګه د سپرلي باد ته رپېږي

په یو لاس کې یې انګور بل کې انار وي

ستا د سترګو اشارې ته انتظار وي

یو سات وروسته بل وطن وي بل جهان وي

ماښامی وي، ستا یاران وي، کابل جان وي

ستا موټر دارالامان خواته روان وي

زمزمه شي د حمزه بابا بیتونه

"سالک" مومي په کې رنګ رنګ هنرونه

د پښتون د نفسیاتو کیفیتونه

نړۍ څه ده؟ عقل څه دی؟ ښکلا څه ده؟

رابطه د فلسفې او د شعر څه ده؟

شعر خوند دی، عاطفه، که تجربه ده؟

فلسفه خو تعقل دی دا ښکاره ده "

ځلاند " واچوي خورې ورې پوښتنې

چې غځېږي تر يونانه يې لمنې

بنډار خوړ وي ياران دم په دم ګرمېږي

څوک دې وخوځوي، څوک درته بنګېږي

وايي وه ښاغليه **!**سور کې يې که نه يې

خلک تللي، شپېه وروسته بار بندېږي**.**

# سفر (۲)

د ناهیلۍ د دنګ دیوال سیوري ته ناست یم
سترګو کې د اوښکو رودونه
او په خیال کې مې یو جهان تصویرونه روان دي
زه،
طوطیان
او توتکۍ
ټول له اوو سیندونو
جزیرو
او ان د قاف له غره پناه کېږو
کاش د تګ په وخت کې دې ووینم
کاش له نیمکښې دروازې
دې لاس راووځي
او د خپل وجود له باغه
هغه سره منه د یادګار په توګه راکړې.

## دپېغلې بېوزلي

د پښتنې پېغلې له زړه نه دې خدای مه خبروه،

سږ کال مې ټولې روپۍ ټولې کړلې

سږ کال مې زړه و

چې د سرو زرو بنګړي به واخلم

سږ مې د هیلو ذخیره په دواګانو لاړه

شمسږیه! ډېره موده کېږي چې ناروغه یمه...

## شپه او باران

نن شپه مې بيا يوازېتوب لړزوي
د مات څراغ څنګ ته مې ډېره کړې
او
خپلې تېرې پښېمانۍ مې
واړه موټې کې دي
شېبه شېبه مې
پر زړه ته لکه باران اورېږي
نن شپه
به بيا ښه تر ناوخته کښېنم
د ژمي شپه ده
بيا د شعر او باران ورمې دي
نن شپه مې
زړه دی
لکه پاڼې دګلونو پر تا خپلې کلمې شيندمه.

## سفر (۳)

زه ځم، زه روان یم

زړه مې په هماغه کوټه کې پټوم

چې دروازه یې دلمر

او دریڅې یې د سپوږمۍ خواته دي

په هماغه زاړه تاخ

هماغه کتاب

هماغو پاڼو کې

چېرته چې

کلونه پخوا

تا د خپلې باغچې سور گلاب ايښی و

زړه مې له سلو هيلو

او سلو ارمانونو سره

تا ته امانت پرېږدم

... خيال يې ساته.

## کوم رنګ؟

تور که سپين
سور که شين
ستا لپاره کوم رنګ ناپېيلی دی
کوم رنګ ټوکر ؟
کومه جنډه ؟
څه شی د خپل کور پر دیوالونو وځړوم
چې تاته زما ملکيتوب ثابت کړي
څه ډول سمبول
په خپل بام انځور کړم
چې ته پوی شې زما ماشومان اورپکي نه دي
فقط ووايه!
څه وکړم
چې ته پوی شي

زما د کوټې په دېوال کې راکټ نه شته،
رباب ځوړند دی
زما د کور په  انګړ کې بمونه نه شته ، منګي دي
او په کڅوړو کې،
بارود نه زما د ماشومانو کتابونه پټ دي
ماته ووایه
زه څه وکړم
چې ستا ډرون مې وپېژني
چې له اسمانه پر ما اور ونه شیندي
چې له غریبو شونډو نه مې خندا وانخلې
فقط ووایه
څه رنګ جنډه
څه ډول سمبول ؟؟؟

## اروابناد ننګیال ته!

ننګیاله! نه شم درتلای
سږ دې کلیزه هم لمانځلی نه شم
سږکال زما او ستا ترمنځ
هره ورځ نوې حادثې زېږېږي
اوس مې نو پښې ستا هدیرې پورې له تلو منع دي
اوس مې د ځان له سیوري هم ویرېږم
اوس نو زما او ستا کوچنی ولایت
لکه جنت سپرلی سپرلی ولایت
دوه ګامه نور هم کوچنی شوی
راتنګ شوی پر موږ

«««««»»

ننګياله! هېر مې نه یې
ښه مې په یاد یې چې کلیزه دې ده
نن دې د مړینې پر کلونو یوه بله پاڼه واوښتله
خو ته خبر یې که نه
په کروندو کې لمبو زور اخیستی
لوګی یې ټول کلی او کور اخیستی
ځنګل، ځنګل وریځې راتاوې دي ترې
بسرام، کټل او هرمل ټول غلي دي
نرګس، ګلاب او سره غاټول غلي دي
خړو غبرونو فضا ولړله

پاڼې رپیږي
شنې مرغۍ الوځي
پیرجانه! ومې بخښه
سږکال مې ونه شو کړای
چې ستا لپاره ستا د ټولې
هدیرې د جنډو زلفو کې تازه تازه شعرونه بند کړم.

## کليواله بيا به ځنګه راته ګورې؟

ته له چپې لارې راشې
زه له ښى خوا در روان يم
ته له خپله فکره سترى
زه ډاډه په خپل ارمان يم
کليواله بيا به څنګه څلورلاري کې راګورې؟

کليواله! خداى خو شته دى
له الماسو جوړ خنجر به اسمان راکړي
د تيارو ګريوان به څيرې تر لمن کړم
ډک له ستورو به د لوى کلي درمند کړم

تر بادونو سرګردانه

در په در زلمي به یو ځای کې راغونډ کړم

کلیواله زه یې وینم

سپېده دم راپورته کېږي

یوې پاکې زاویې نه،

ددې پورې غره اوړې نه

د ګناه لمبې سړېږي

لېونتوب دې تمامېږي

توپانونه غلي کېږي

کروندې به د غنمو

د هندارو په ذرو باندې مړېږي

ډېرې سترګې به شي خړې

ډېر مخونه به بدرنګ شي

لوړ برجونه به د ظلم

یو په بل پسې را ړنګ شي

کلیواله بیا به خنګه راته ګورې؟

کليواله بيا به ګورې

ايډيالونه به رنګ بايلي

احساساتو زېږولي

شعارونه به رنګ بايلي

تور ټوپک به په زنګ واوړي

پکولونه به رالوېږي

که ايمان دی که ارزښت دی

تصور به يې بدلېږي

دجنوب ياغي بادونه

به شمال سره ګډېږي

يو اتڼ به وي ټول کلی

به يوه ډول ته نڅېږي

بس يو ته به يې

چې سترګې به دې،

پورته نه غړېږي

کليواله بيا به څنګه ځلورلاري کې راګورې؟

## هېواد

سر مې شمال

پښې مې جنوب

دواړه لاسونه مې

ختيځ او په لويديځ کې پراته

زړه مې پلازمينه د تمام وجود دی

له ما که هره خوا بېليږي

نو زما د وجود غړی به وي

له مانه لاس او پښې مه بېلوئ

ما کې شمال او جنوب مه جوړوئ.

## خوب

بېګاه مې خوب لیده چې ډېر دې ځورولی یمه

بېګاه دې ټوله شپه په ګرځنده زندان کې ومه

زه له خپل کوره په یوې مړۍ ډوډۍ پسې وتلی ومه

تا په دې جرم لویه لاره کې نیولی ومه

سړیه! خدای منې دا اوس هم لکه مړی یمه

تر دغې شپې وروسته له خپله ژونده سترړی یمه

هره شېبه مې یو تصویر سترګو ته ودرېږي

چې بند په بند دې د تکفیر په تور تړلی یمه

لکه د خټو بت دې مخ ته کېنولی یمه

ته مې د مرګ په وسیلې پسې احکام ګورې

زه د ناروغه مور ساتلو ته خپلوان لټوم

خیال کې د چا نیمګړو هیلو پسې ځان لټوم

بس یو ناڅاپه دې پر ژبه کلیمه تېره شي

او زما مخې ته" اتل "او" خاطره "تېره شي

ستا له ټوپکه زما زړه پورې لمبې ووځي

په هره ساه رانه الله نارې ووځي

ظالمه! ته خو مې د ژوند په هر یو باب کې پروت وې

لکه تنکی ګلاب دمینې هر کتاب کې پروت وې

هېڅ مې باور نه شي چې تابه زه وژلی یمه

خدای مې له زړه خبر دې ډېر دې ګړولی یمه.

**ښار اوس ......!!**

زموږ کورونه لا هماغسې دي

لا هم بړستن غوندې پردې

د دروازو پر ځای زموږه په خټينو دېوالو نښتي

هر څه هماغسې دي

يوازې « نيا» ده چې....

پيوند پيوند ټيکرى پرې غوړېدلى

ټوله شپه

دها زاړه لالټين رڼا ته مخامخ پرته وي

نیا اوس پخوا غوندې

دقاف د ښاپېریو او دېوانو د کیسو

هغه اتله نه ده

نیا داسې چوپه وي

چې ته به وایې تورې یې په ستوني کې دي یخ وهلي

نیا داسې ښکاري

ته وا یو اسمان خبرې یې سینه کې مړې وي

نیا چې غږېږي

لکه غږ چې یې زخمي زخمي وي

د « نیا» خبرې اوس

د چا په ماشوم ذهن کې ګلونه او رنګونه غوړولی نه شي

ایکي یوازې

تر ناوخته

خپلو سپینو

نا اوبدلو شان کمڅو ته

چې لالټین

ژېړبخن کړي وي

په زړه کې سل خبرې کوي

لا یې غمجن بانه یو بل ته ورغلي نه وي

چې له سینې یې څو ټوخي

او له زړګي یې

یو ناغوښتی شان زګیروی پورته شي

تر زګیروي وروسته

د زړه ټول زور

چې راټول کړي

نو

ایله یوه خبره وکړي:

...بچی!

زما له سترګو نه

پناه یې

خو الله دې په امان کې لره

ښار کې

احتیاط کوه

چې ښار اوس له ځانمرګو ...

## ځانمرگی

نن د کابل واړه واټونه په سرو وينو سره دي!

نن هر سړي بلا ټپونه

په بدن واخيستل

نن ددې ښار له شنو پارکونو هم

بويونه د بارودو خېژي

پوهېږم نه!!

دغه به څوك وي

چې يې ځمکه پر موږ سره تبۍ کړه

دريغه!!

چې يو ځل مې ليدلای وای

او دا مې ورته ویلي وای:

اشنا!

دا زړونه تږي دي، د وينو نه، دمينې تږي

پام کوه ياره

ددې زړونو مرگی نه دی روا.

## ايمان

مور مې له خپل زاړه کميس نه جای نماز جوړ کړی
د پلار مې
چاودې چاودې پوندې
له سهاره تر ماښامه
دجومات له وچو ډکو او بر وزو ډک وي
زموږ حجره
زموږ جومات
لکه جوړه خور او ورور
لکه زموږه دکليوالو عقيده او کلتور
زموږ کلا کې له عمرونو دي په مينه ولاړ
خو اوس
زموږ د ګاونډي کلي ملا
زموږ پوره ايمان نيمګړی بولي.

## زما لاسونه، زما پښې

زه مې له خپلو لاسو، پښو په تنګ يم
همدې لاسونو
دخپل مور کليمه دار کميس
دپورې ګاونډې کور کې
په نيمه خرڅ کړ
او
همدا پښې وې چې وحشې شوې
نو؛
په خپلو اولادو وختې.

زما لاسونه
زما پښې
خلکه زما د خپل وجود دښمنان
زه دې لاسونو او دې پښو له ژونده ستړی کړمه

زما د کلي  کروندو کې یې
نفرت او دښمنۍ کرلي
د غرونو غاړو کې یې
ګام په ګام
د بېرو او ګرګرو پر ځای
زړي د نیستۍ کرلي

زه همدې خپلو لاسو، پښو برباد کړم
زه همدې خپلو لاسو، پښو
د سرو لمبو په داسې سیند لاهو کړم
چې راوتل تر پنه ناشونی ښکاري
زه اوس له خپلو لاس و پښو نه کومې خواته لاړ شم
زما لاسونه، زما پښې
زما د خپل خواږه وجود د کرارۍ دښمنان
زما لاسونه، زما پښې
زما دګل غوندې وطن د ابادۍ دښمنان...

## زلزله

دې زلزلې رانه هرڅه واخيستل
خدايزده!
زموږ دکور
هغه
لوګی وهلی چت به چېرې وي اوس
هغه چاودلي دېوالونه
چې
له چاودو به يې
شعر جوړېده
په چت کې پټو چينچارانو به
تمامه شپه
زموږ د دېوالونو د شعرونو
زمزمې کولې

خدايزده!
چې ځنګه له يو بل نه ورک شوو
تر زلزلې مخکې
خو زه
او زړه يو ځای اوسېدو
زړه مې له تن سره
په خوا کې پروت و
تن مې د سترګو په ولکه کې و
بهر نه تللو
پښې مې هم دواړه
د زړې کوټې په غولي کې وې
خو
اوس معلومه نه ده
چې زړه مې چېرې
تن مې چېرې دی
او
زه چېرته يم.........!!

## د وینو رنګ

موږ له کلونو خپل دروغ او رښتیا

دواړه په سره رنګ لیکلي

زمونږ

دشاړو، کروندو او غرونو

پولې هم

په سرو تېرو او کرښو بېلې

موږ له پېړۍ، پېړۍ

د وینې په رنګ زړه بایللی

زموږ د خیال پر تابلو

لمر تل په شفق کې ډوب وي

او ترانو کې مو

د توري ټپ تشبيه د غوټۍ

موږ د بوډۍ د ټال د اوو رنګونو منځ کې

تش سور رنګ پېژنو

ځکه زموږ تاريخ په وينو ليک دی

ځکه زموږ تاريخ په وينو ليک دی.

# کتابونه

پرون کلونه وروسته بیا
دماشومتوب
په خاطرو ورپېښ شوم
نیم عمر
وروسته مې
زړه تاخچه کې
ناستو ګردوهلو کتابونو ته سلام ووایه،
هغوی هم
ټولو په یوه مترنمه
او
خوږه لهجه ځواب راکړلو
غېږ یې اشنا غوندې و
غېږ یې هماغه و
هماغه چې ځّوکاله یې
زما شوخو فکرونو ته سندرې ویلي

ها درحمان
ها د خوشال
ها د الفت سندرې
ها
زمزمه یې یو ځل بیا
زما دسترې زړه غوړو ته وکړه
خو ما
له شرمه
تش د خپلو کتابونو
پر ګردونو باندې لاس ور تېر کړ
نور مې
په وس کې دویلو
ورته هېڅ هم نه و ځکه!
چې دوی رانه پوښتنه وکړه ولې!
دا دومره موده چېرې وې ته؟
ما ورته
هېڅ ونه ویل
ځکه دا دومره موده
زه له دې دنیا څه
چې له ځانه ورک وم...!!

# د دموکراسۍ اور

اور له ختېين کوره کېږدۍ ته راوست

لا چارچاپيره ترې غړمبېږي

دغربي دموکراسۍ اورونه

خو سڼکال ژمی

درنو  واورو

په کابل کې ترې د ګل غوندې لاسونه يوړل.

## لاروی۴

ونې!
سلام،
زه هاغه ستا د ماشومتوب ملګری
هاغه
چې تاته به مې تل
ماشومو لپو کې اوبه دروړلې
نه!
لارویه
څه مې نه یادېږي
په ما د وخت
دومره ناخوالې
توپانونه
خزانونه تېر شول
چې اوس
له مانه خپلې پاڼې هېرې

ما خو لا څه کوې
تر ما لاندې ويالې نه
اوس په تللو لارو
هغه د پښو پلونه ورک دي
دغره سيندونه خو
په سمه کې
د پښو اېښودو ځای نه لري
دښته کې
هر ځای پردي کاڼي پرتې
له ما اوس
تېرې زمانې هېرې دي
نه!
خپه نه شې لارويه!
ومې نه پېژندې.

## ډله ييز قبر!!!

زموږه چيغې لا فضا کې قتلې شوې نه دي

ځمکه

به حال ووايی

ځمکه

به ستا د جنايت

ناولی راز

تر ډېره عمره زړه کې ونه ساتي

ددغې ځمکې

خړې خاورې به

بادونو سره مل

ټولې دنيا ته پيغامونه يوسي

زموږ داستان

به هرې خواته خپور شي

خلک به واوري

چې موږ ولې

اوښکې، وينې

دسرونو په کاسو کې څښلي

موږ به يو وخت

ستاسې ترمخې يو ځل بيا درېږو

زموږه چيغې به فضا کې

دراتلونکو انسانانو

شعارونو سره يو ځای

ستا غوږو ته درځي

موږ به داستا په هر يو رګ کې

لکه وينه ګرځو

کله چې سترګې خلاصوې

او پټوې

زموږ زخمي زخمي

ځېرې به وينې

موږ به له درده اوس

غاښونه په خپل زړه کې ښخ کړو

ته به مو ووژنې خو

وخت به مو ونه وژني..........!!!!!

## تقدیر

زه د پالي په شنو خبرو باور نه لرمه
لا مې په خیال کې
د سبا د موسکېدلو تصور مړاوی دی
لا مې نیم ذهن
د تېر شوي تراژیدۍ
سیوري کې ژوند تېروي
لا مې زړګی د توت د پاڼو هومره وېره لري
زه دپالي خبرې نه منمه
زه د پالي په غوړو غوړو وعدو نه غولېږم
زه مې د خپل وجود
په درد باندې ډېر ښه خبر یم
زه لا پرون په خوب کې وینم
او فکرونو کې مې ټول
د تېرو شویو وریځو متن پروت دی

زه لا ماضی نه راوتلی نه یم
زه لا د نن او د سبا په مانا نه پوهېږم
زما د باغ نیالګي لا هم
لمر او اوبه

زما د تېرو اتلانو له لاسونو غواړي
او زما هيلې بې زحمته
پر ګلابو د شبنم غوندې خوبونه غواړي
زه د پالي په شنو خبرو باور ځنګه وکړم
زما برخليک زما په خپل لاس کې دی
او
زه د خپل راتلونکي ژوند دبدلولو ارمان نه لرمه

مرغۍ خپه دي
پاڼې شهيدې شوې
کروندې له تندې نه مري
خزانه!
ښه دې وکړل
نه استانه پاتې شوه او نه دانه

# کور

دکور درې ستنې ونړېدې
مینه
عاطفه
رښتینواله
چت ته دې خیر وي...

## بېلتون

نن شپه د الماسو ځاځکي نه وو
د باندې واوره وه
کوټه کې باران
ته نه وې
زه، لپ ټاپ
شعرونه او کتابونه ګډوډ پراته وو

**بېلتون**

مرغۍ والوتې

پاڼې ورژېدې

ته زما سترګو ته ګورې

دتګ وخت خو به دې نه وي؟

## وېره

شيرينې! هېره  مې نه يې
هېڅکله به دې هېره نه کړم
ته لکه کرونده يې
زه لکه اوبه
که د بندونو ويره نه وای
ستا تر غېږې به مې
دماهيپر ټوله لاره
ټول کړليچونه
په منډه منډه وهلي وای
او هېڅکله به مې
ستا له مينه ناکې غېږې سر نه و پورته کړی.

# شمله ورو

ولې خاندئ، ولې ګورئ
شمله ورو، بريتورو، مټورو
سيند له خپله بريده اوړي
سيند ته ګورئ
لکه ځګ يې زغلولي دي شملې ددنګو غرونو
لاس او پښې يې ماتې کړي د نښترو، چنارونو
مخ يې تک سور د ساحل کړ د څپو په ګذارونو
د شنو ونو سيوري تښتي
شين چمن له ويرې رېږدي
نه چې زاڼي وطن پرېږدي
نه چې بيا بويونه ورک د ترانو شي
هسې نه چې سيند په غېږه کې را ونغاړي ښارونه
او چپه کړي پر ګلابو ټول د ختو ديوالونه
خدای دې نه کړي
خدای دې نه کړي
چې خړ پړ مو شي د زړه په تاخ کې ايښي ارزښتونه
شملورو، بريتورو، مټورو
ولې خاندئ
ولې ګورئ
ولې ګورئ
ځئ چې غاړو ته يې ودروو دعقل ديوالونه.

# ته چې نه يې!!!

تا په ما څه کړي

چې کله يې نږدې راسره

دنيا ښايسته وي

خوشبويۍ له هرې خوا اورېږي

لکه د سيند په غاړه ګرځم

او تازه تازه هوا اورېږي

تا په ما څه کړي دي؟

تا په ما څه کړي

چې کله مې په خوا کې ګرځې

ژوندون ښايسته وي

چارچاپېره کايناتو سره

د لېونتوب تر بريده مينه کوم

ګلان اوبه کړم

پاڼې ښکل کړم

او د لمر خواته پردې خلاصې کړم

له موسيقۍ

له شاعرۍ

له عاشقۍ سره

مې شوق پيدا شي

ستا د موسکي موسکي نظر سيوري کې

شېبه شېبه لکه ګلاب غوړېږم

تا په ما څه کړي دي؟

تا په ما څه کړي

چې کله مې په خوا کې نه يې

اسمان خپه وي

لمر له خپله ځايه نه خوځېږي

رانه چاپېره ديوالونه

تر اسمانه جګ شي

د دروازې رامبېل نرګس غوندې رنځور ښکاري

د کور انګړ کې مې نه رنګ ښکاري، نه نور ښکاري

مانه چاپېره موجودات هم درته لارې څاري

کله چې نه يې کتابونو ته کتل ګران وي

کله چې نه يې سهار کار پسې وتل ګران وي

کله چې ته نه يې

د ژوند ساه اخيستل ګران وي.

## لار دداسې موسم څارم

لار د داسې موسم څارم

چې باران د پښيمانيو

هرې خواته په کې وشي

چې ګناه د غره اوبه شي

چې لشې لشې غنم مو ښوره ځمکه کې را شنه شي

او د تيرو چاود ټټر کې

د ګل بوټی په خندا کړي

لار د داسې موسم څارم

حافظه د دنګ چنار چې

د ويالې په غږ تازه شي

په سينه کې يې نومونه

د مئينو را ښکاره شي

د جومات مخې ته پوله

په زلميو ښايسته شي

يو ځل بيا چې ښاخ د ګلو

واوړي ستاسې له ديواله

چې زه لاره کې تېرېږم

خبروي مې ستا له حاله.

## زوړ ګراج

زما زړه لکه سوړ ژمی
ونې، بوټې يې کنګل دي
په سفر يم د ژوند سټړی
لکه ډانګ وي اوبو وړی
دلته هم داسې څه نه شته
چې دا زړه ورباندې تود کړم
هلته تېل، دلته ګريس دي
لمونځ به چېرته سړی وکړي
دا شيان خو ټول خبيث دي

بابا غوړ پتلون اغوستی
دموبلاينو بوی ترې خېژي
زوړ ګراج کې راتاوېږي
يو خيرن سپی کونج پروت دی
له هغه سره غږېږي

پر یو مېز ایښي ګلونه
او ترې لاندې بوتلونه
لږ اوبه ګلدان کې توی کړي
یو ماشوم ته په خندا شي
شین کتاب په لاس کې ورکړي
دوه جملې ورسره لولي
ورو ورو بېرته ماته راشي
پر اوږه مې سپک لاس کېږدي:
ښکاري ښه ستړی ستومان یې
د موټر انجن بې خونده
او ته واوره کې روان یې
دا ورځ کله د سفر ده
سړک خویه ائینه ده
چې خوځېږې حادثه ده

هو رښتیا نن یکشنبه ده
دغه ستا موټر چې جوړ کړم
دغه واورې پاکومه
دا ګراج به لږ سنبال کړم
خیرن ځان به لږ ګنګال کړم
نن زه شپږشپېته کلن شوم
ماښامی ښایسته کومه
لور مې خواته ده راغلې
ماشومان به خندومه

زه بابا ته هک حيران يم
د مرگ سيوري ته ولاړ دی
او له ژوند اخلي خوندونه
چې زما دا زړه نو ولې
داسې موړ دی له ژوندونه.